# تيروتني

لومړی ټوك

پوهاند عبدالشكور رشاد

١٣٨٢

په جلال اباد کې د پوهاند استاد
رشاد علمي سيمينار په وياړ

# تيروتنې

لومړی ټوک

## پوهاند عبدالشکور رشاد

۱۳۸۲ هـ ش- 2004

# کتاب پېژندنه


د کتاب نوم : تېروتني

لیکوال : پوهاند عبدالشکور رشاد

چاپ کال : ۱۳۸۲د مرغومې ۲۹ - 2004

چاپ ځای : دانش کتاب پلورنځی

خپرونکی : د ختیځې سیمې ازادو ژورنالیستانو او لیکوالو اتحادیه

چاپ شمېر : ۵۰۰ ټوکه.

کمپوزر : محمد رفیع واکمن

د کمپوزر مرستیالان : ذکریا او محمد حنیف

د چاپ زیار : ازمون

## کمپوز ځای

د اطاق نمبر ۱۴۳ - څلورم پوړ، میااسلم پلازه، د درمسال څلور لارې، جلال اباد ښار، ننګرهار.

بسم الله الرحمن الرحیم

# ایا رشتیا هم بېدل نوی عروضي بحر را ایستلی دی؟

د نړۍ د نظمونو په عروضي سیستمونو کي یو هم د ابوعبدالرحمن خلیل بن احمد بن عمر بن تمیم ازدی فراهیدي البصري ( ۱۰۰-۱۷۰یا ۱۷۵ ه ق) را ایستلی سیستم دی (۱) چي ځیني کسان یې عربي عروض بولي او ځوک، ځوک یې د انتیک سیستم په نامه یادوي. نوموړي خلیل د خپل عروضي سیستم له مخې په عربي نظمونو کي پنځلس بحره موندلي او دا نومونه یې پرایښي دي.

الف: مفرد یا متفق الاجزابحرونه:

۱- رجز
۲- هزج
۳- رمل
۴- وافر
۵- کامل
۶- متقارب

ب: مرکب یا مختلف الاجزا بحرونه:

۱- طویل
۲- مدید
۳- بسیط

۴- منسرح
۵- سریع
۶- مقتضب
۷- مضارع
۸- خفیف
۹- مجتث [۲]

خلیل ددغو پنځلسو بحرونو له پاره پنځه دایرې جوړې کړې دي چې درې یې په مفردو او دوی یې په مرکبو بحرونو پورې اړه لري. تر خلیل څوکاله وروسته اخفش الاوسط البلخي ثم البصري ( ابوالحسن سعدبن مسعده په ۲۱۰-۲۲۰- ۲۲۱ ه ق) په عربي نظمونو کې شپاړسم بحر وموندہ (۳) او متدرک (درا په زور د پیدا سوې په .... نوم یې پرکښیښود (۴) متدارکه مفردو بحرونو اووم بحر دی او اخفش الاوسط د خلیل له منفردې دایرې څخه را ایستلی دی له دغه امله نو د خلیل منفرد دایره د متدارک بحر تر موندنې وروسته متفقه دایره بلل سوې ده، په شرح تبسیر العروض ( ۲۵ مخ) کې لیکلي دي:

" د عربي ژبې شاعرانو فقط ددغه بحر مخبون مشکل کار کړی دی" د عربي عروضو او د لسم بحر په څلورمه هجري سدۍ کې یعني تر خلیل او اخفش الاوسط تقریباً دوه سوه کاله وروسته په خراسان کې مولانا یوسف نیشاپوري وموندہ او "قریب" نوم یې پر کښیښود په محیط الدائره (۲۳ مخ) کې لیکلي دی "عربي عروضیان دغه قریب بحرمنسرد بولي" مولانا یوسف نیشاپوري ددغه بحر مکفوف وزن د خلیل له منتزعی دائرې څخه را ایستلي دي (۵) د عربي عروضو اتلسم بحر برزجهر قائنې یا قمي ( قسیم بن ابراهیم بن منصور) وموندہ او جدید نوم یې پر کښیښود. ځینو کسانو دا بحر د پیدا کوونکي په نسبت "بزرجمهري" هم بللی دی (۶) دغه جدید کرد غریب په نامه هم یاد سوی دی.

بزر جمهری قائتی یا قمی ددغه مخبون شکل د خلیل له منتزعې داېرې څخه را ایستلی دی.

د عربي عروضو نولسم بحر مشاکل ( د کاف په زور- د هم شکله په معنا) دی چې په پهلوي نظمونو کي باب و اود فارس و خراسان وروستیو عروضیانو د خلیل پر را ایستلی عروضي سیستم برابر کړ او ددغه بحر مکفوف شکل يې د خلیل له منتزعه دائرې را ویوست په محیط الدائره (۲۳ مخ) کي لیکلي دي" مشاکل بحر عربان مطرد بولي" قریب و جدیدو مشاکل بحرونه ددې سره شپږ رکني دي. د عربي عروضو شلم بحر بندرا بن راس خوشګر( ۱۱۷۰ه ق) په قول د پارسي ژبې نامتو شاعر ابوالمعاني مرزا عبدالقادر دهلوي متخلص بېدل پر (۵۴: ۱۰- ۱۱۴۳ ه ق) را ایستلی دی.

ده پخپله تذکره الشعرا (۱۲۵ مخ) کي چي د بېدل تر مرګ يې ۲۲ کال وروسته په ۱۵۵ ه ق کال تالیف کړېده لیکلي دي: " بیدل در فارسی بیستمین بحر را اختراع نمود که تا ان وقت مستعمل نبود.

مثلاً:

می و نغمه مسلم حوصله ای که قدح کش ګردش سر نه شود

بهل است سبکسری ان قدرت که دماغ جنون زده تر نه شود

د هندوستان نامتو محقق پروفیسور نور الحسن انصاري د بېدل پر حالاتو باندې د بحث په ترڅ کي د بندرا بن داس خوشګو دغه ادعابي شک و تردید نقل کړیده(وګه – ۲۴ مخ) زما (رشاد) په خیال د حضرت بېدل د پورتني بیت عروضي سکښت (تقطیع) داسې کېږي.

فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن

می ونع م مسلم حوصل ای که قدح کش گردش سرنشود
بهلس ت سبک سرا قدرت که دماغ جنو زد تر نشود

دلته په هرنيم بيتي کې اته پلا فعلن ( عين يې حرکت لري) راغلي دي چي په ټول بيت کي دغه شمېره دوه: (گرایه می نو فعلن دکن شپاړس پلا تکرېږي) داسې بيتونو ته چي شپاړس رکنه يکې راسي.
عروضيان مضاعف وايي (٧) طويل يې هم بولي (٨) تاسې وينئ په پورتني تقطيع کي شپاړس واره تکرار سوې رکن فعلن دی چي په عروضي اصولو کي له يوې وړې فاصلې سره برابرېږي (٩) فعلن ( د عين په حرکت) " د فاعلن" رکن مخبونه - "دفاعلاتن" رکن مخبون محذوفه" دمتفاعلن" رکن احذه او د "مفعولات" مخبوله مکسوفه فرعه ده (١٠) کيدای سي له دغې مزاحفې فرعې (فعلن) له تکراره څخه ځو بيتونه (یا- وزنونه ) فقط په مفردو بحرونو کې د متدارک بحر مخبون درمل بحر مخبون و مخدوف او د کامل بحر احذوزن وبولو .(١١) خو عروضيان د فعلن له تکراره څخه روغ بحر فقط متدارک مخبون بولې چي د خبب اورکض الخليل په نومونو يي هم يادوي. عروض پوهان دغه تقطيع ته حقيقي تقطيع وايي که يې ځوک د متفاعلن فاعلاتن او مفعولات پر مزاحفو فرعي رکنونو وويشي دغه ولس عروضان غير حقيقي تقطيع بولي . د ابوالمعاني بېدل پورتنی بيت چې بندر ابن داس "خوشگو " په علم عروضي بحر کي بللی او د هغه اختراع يې د بيدل نوښت گڼلی دی، هغه وخت سهي کيدلای سوای چې دغه بيت په وړاندنيو پيداشوو نولسو عروضي بحرونو کی نه سوای تقطيع کيدای خوره لا داده چی د ابوالمعانی بيدل همدغه بيت د افغانستان ملک الشعرا استاد عبدالحق بيتاب په مفتاح الفمرص درقافيه و عروض د ٣٣ مخ کی د متدارک مخبون (خبب) وزن د

مضاعف شكل په مثال كی راوړی دی، خو تقطيع كړی يې نه دی. گومان كوم بندر ابن داس خوشگوته د دغې ادعا په وخت كي دا نه وه معلومه چي د ده استاد (ميرزا عبدالقادر بيدل ترزانی تقريبا دوه سوه څو كال پخوا سليفي بخاري (۹۰۹ ه ش) پخپله رساله عروضي سليفی (۴۱ مخ) كي (چي د ۷۹۶ ه ق تاليف دی) د متدارک مثمن مخبون ركنونه اته واره فعلن ښودلی او دا بيت يې په مثال كې راوړي دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| فعلن | فعلن | فعلن | فعلن |
| چودرخت | نبود | گل با | غ اره |
| چوقدت | نبود | قدسر | وچمن |

په جديد علم العروض (۲۶ مخ) كی پروفيسور عبدالمجيد د سلمان شاعر په نامه د متدارک مثمن مخبون وزن په مثال كې دا بيت راوړی دی:

| | | | |
|---|---|---|---|
| فعلن | فعلن | فعلن | فعلن |
| صنما | بنما | رخ جان | بر |
| كه ترا | بوداين | به ازان | كه مر |

كه له سليمان څخه د پروفيسور عبدالمجيد مراد سلمان ساو چی (۷۷۸) ه‌ق) وي نو د متدارک مخبون وزن دوه سوه كاله لا نور وړاندې ځي پر پارسي او عربي ژبو سر بيره په هندي او اردو نظمونو كی هم ركض الخيل (متدارک مخبون) وزن كاريږي سحبان الهند غلام علي ازار بلگرامي (۱۱۱۶-۱۲۰۰ ه ق) په خزانه

عامره (د۱۱۷۶ ه ق تاليف ۲۹۹ مخ) کې ليکلي دي: " رکض الخيل ( متدارک مخبون) وزن په هندي عروضو (پنګل ) کې هم سته، سويه يې بولي په سويه وزن کې يو خفيف سبب د نيم بيتي په سرکي زياتوي او کله يې په پای کې هم ورزياتوي. سويه وزن په هندي عروضو کې کله شپږ رکني او کله اته رکني وي " په اردو نظم کې د شپاړس رکني متدارک مخبون (رکض الخليل ) څو مثاله دادي:

۱- لومړی مثال:

فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن فعلن
به ستم تو ستم مين ستم هي نهي به جفا تو جفا مير جفاهي نهي

کے ظلم هزا رونے سے تهے شکوه تو مير کے کے هے نهے

دوهم مثال:
نه خدا هی ملا نه وصال صنم نه ادهر کے رمے ادهر کی رهے
که دو نو جهان سی خدا کی قسم نه ادهر کی رمےنه ادهر کی رهی
دريم مثال:
تيری کشت غم کا سے حال بتر مے هے کهيو جو جانا هو تيرا اودهر
تجهی قاصد موج نسيم سحر مری هجر کی شو کی بکا کی قسم

د عظمت الله خان دهلوې (۱۲۹۷-۱۴۴۶ ه ق ) داسې بيتونه چې په هر بيت کې يې اته واره فعلن تکرار سوي دي . يو مثال يې دا دی:

| | | | |
|---|---|---|---|
| فعلن | فعلن | فعلن | فعلن |
| مجهی بيت | کايان | کوی پهل | نه ملا |

| | | | |
|---|---|---|---|
| من چی | کویدا | ګالګا | سی ګی |
| مجهی | عیشبهان | کوی پل | نه ملا |
| مری تن | ګویداء | که جلا | سی ګی |

سریلی پول (۹۵ مخ) د رکض الخیل یا حسب وزن دا ته ییز (مثمن) مشکل مثال په عربي ژبه کي دا دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| فعلن | فعلن | فعلن | فعلن |
| کره | طرحت | بصوا | لجه |
| فتلققفا | رجل | رجل | (۱۱) |

کېدای سي چي بندرا بن داس خوشګو د بېدل له خوا د شلم بحر د را ایستلو په لانجه کي د شاعر هر بیت د شپاړسو رکنونو پر ځای پر اتو رکنونو ویشلي او د وزن ډېره به یې متفاعلتن ( وره فاصله + دره فاصله) او متفاعلتن د متفاعلن رکن په وتد کی د یوه متحرک رغ ( توری) په زیاتولو سره لاس ته راغلي، خو عروضیانو داسې زخاف په متفاعلن کي نه دی منلی او د عروضیانو دغه نه مننه به زما په خیال ددې سبب سوی وي چي خوشګو د بیت پر دغه راز تعطیع د شلم بحر نوم کېږدي.

زه باور لرم خوشګو ته دا نه وه معلومه چې د امیر خسرودهلوي(۷۲۵ هـ ق مړ) د زمانې مولف عاشق صادق په خپل کتاب جامع الصنایع کې تر خوشګو او بېدل تقریباً څلور سوه کاله پخوا متفاعلتن د نوي رکن په نامه معرفي کړی او د هغه له تکرار څخه یې په خپل خیال نوی بحر را ایستلی دی خو دده دا بدعت نورو عروضیانو نه دی منلی او د خوشګو او بېدل د زمانې ادیب او لیکوال شمس الدین فقیر دهلوي ۱۱۵ ( ۱۱۸۳ هـ ق ) په خپل مشهور اثر

حدائق البلاغت ( د ۱۱۶۸ هـ ق تاليف) کي د عاشق دغه بدعت په کلکه رد کړې او په ۱۱۴ مخ کي يې په خورا صراحت ليکلي دي:

" يکی از معاصران امير خسرو دهلوی که عاشق صادق نام داشت رساله عروض الضايع تاليف نموده که انرا جامع الصنايع نام کرده در انجا سه بحر ديگر اختراع نموده و باعتقاد خوردو رکن تازه پيدا ساخته واين سه بحر از ترکيب ان بهم رسانيده اول " متفاعلتن" دوم" مفعولاتن" چون غور کرده شود متفاعلتن دو فعلن بکسرعين است و مفعولاتن دو " فع لن" بسکون عين واول متدارک مخبون و دوم متدارک مقطوع...)

ددغې څېړنې له مخې زه په زغرده ويلای سم چي د ابوالمعاني ميرزا عبدالقادر بېدل له خوا د شلم عروضي بحر د را ايستلو ادعا چې بندر ابن داس خوشګوی دهلوي کړې ده سهي نه ده. د بېدل په باب کي څېړونکي که ښه کوي بايد ددغې تېروتنې له تکرار څخه ځانونه وژغوري.

(۱) وايي: خليل د يکشنبې په ورځ زېږدلی او د يکشنبې په شپه مړ دی چايي د زوکړې تاريخي ماده "يوم الاحد" او د مړينې تاريخي ماده يې " ليل يوم الاحد" موندلې ده. د خليل د مړګ په کال کي اختلاف دی ۱۶۰- ۱۷۰- ۱۷۵ هـ ق يې د مړګ کال ښودل سوی دي.

(۲) زمونږ د زماني عرب ليکوال ضعيف شوقي په " فصول فی الشعرونقده" ۳۵ مخ" کي ليکلي دي:

" مجتث بحر تر خليل دمخه اموي خليفه وليد بن عبدالمالک ( ۸۶-۹۶ هـ ق) موندلی و" شوقي د خپلې دغې ادعا سند نه دی ښوولی.

(۳) د اخش الاوسط البلخي د مړينې په کال کي اختلاف دی " په کتاب البلغه فی اصول اللغه کي ۲۱ په کتاب الرشاح اوزبده الصحايف کې ۲۱۵ او په مفتاح السعاده کې ۲۲۱ هـ ق ليکلي دي.

اخفش الاوسط" فصول فی الشهر و نقده کي د نوموړي خليل شاګرد ښوول سوی دی، خو نور خلک يې د خليل د شاګرد سبويه النحوي البصري (ابوالحسن عمربن عثمان بن قنبر ۱۸ ه ق) شاګرد بولي. په شرع ابن الصبان (۲۱مخ) کي له خليل څخه اخفتش نبيفه (مستقيم) روايت رانقل سوی دی.

(۴) په فصول فی الشعرونقده (۴۱ مخ) کي ليکلي دي: " متدارک بحر خليل موندلی و خو نوم يې نه و پرېښی دا نوم د خليل شاګرد اخفش الاوسط پر کښېښود "متدارک بهر د الاقناع په سريزه مختصر ابي الجيش شرح ابن الصبان الثريا المضيه د ميزان الشعرا په مقدمه او فرهنګ و صاف کي د غريب او خبب په نومونو هم ياد سوی دی، خو په حاشيه الکبری اعلی الدمنهوري (۶۶ مخ) کي ليکلي دي: " متدارک بحرهغه وخت خبب بلل کېږي چي په فاعلن رکن کي رچن زحاف پېښ شي" متدارک بحر په محيط الدائره (۱۴۵ مخ) الثريا المضيه)۶۴ مخ) شرح ابن الصبان (۳۴ مخ) او حاشيه الکبری (۶۶ مخ) کي د محدث او مخترع په نومونو هم ياد سوی دی. په الوشاح کي د متدارک نور نومونه هم سته لکه: شفيق، رکض الخليل قطر الميزاب سهي متقاطر او ملشق.

(۵) دشجره العروض په اوه لسم کي د مکفوف پر ځای مقصور کښلي دي، خو ما ته سهي نه ښکاري.

(۶) د شمالي هندوستان نامتو عالم مفتي سعدالله رامپوري (۱۲۱۹-۱۲۹۴ ه ق) په جواهر العروض ۴۹ مخ کې د جديد بهر پيداکوونکی د ساساني نوشيروان (۵۳۱-۵۷۹ع) نامتو وزير بزرجمهر بللی دی د مفتي صاحب دا خبره د روايت له مخې ځکه سهي نه ښکاري چي د نوشېروان دغه وزير (عربي عروضو د واضع او مخترع تر زو کړې تقريباً يو نيم سل کاله د مخه مړ دی او د روايت له مخې هم دا نسبت ځکه سهي نه دی چي رضاقلي خان هدايت په مجمع القصحا (د ۱۲۷۴ ه ق تاليف) کي د

جدید بحر پیدا کوونکي بزرجمهر د غازي سلطان محمود غزنوي رحمه الله علیه (۳۸۷-۴۲۱ هـ ق) د زمانې له شاعرانو څخه بللي دي.

ددغه قائنې یا قمي عربي شعرونه د یتیمه الدهر په تتمه او پارسي شعرونه یې د عوفي په لباب الالباب (ج ۱) (ص ۳۳) کي راغلي دي ددغه بزرجمهر د فارسي شعرونو منتخبات په هغه بیاض کي هم سته چي په ۱۲۷۴ هـ ق کال په افغانستان کي امیر محمد نومي لیکلي او اوس د تاشکند په خطي ذخیره کي ساتل کېږي.

(۷) په پارسي نظم کي د مضاعف وزن څو مثاله دا دي:

د عبدالواسع غرجستاني (۵۵۵ هـ ق) قصیده په سالم رجز بحر کي.

دمولانا نورالدین عبدالرحمان جامي ( ۹۱۷-۹۹۸ هـ ق) په متقارب اثلم مقبوض وزن.

د محتشم کاشاني ( ۹۹۶ هـ ق ) غزل په متقارب بحر کي.

د عصمت بخاري قصیده په رمل مخبون وزن کي.

(۸) طویل مضاعف له هغه طویل بحره څخه چې خلیل بن احمد فراهیدلې را ایستلي دي بېل دی.

(۹) وړې فاصلې ته په اروپایي عروضو کې **Anapist** وایي.

(۱۰) خبن: د رکن د سوله خفیف سبب څخه د ساکن رږغ ( توري) غورځول دي.

خذف: د رکن له پایه د خفیف سبب غورځول دي.

کسف: د مفصولات له رکنه څخه په کسف د " ت" په خبن د " ف" او په طی د " و" غورځول دی په معفولات کي د خبن او طي یو ځاي کېدل خبل بلل کېږي.

(۱۱) وګ: د مفتي سعد الله رامپوري محصل العروض ۳۳ مخ د کانپور د نظامي چاپ خانې چاپ ۱۲۹۴ هـ ق او جدید علم العروض ۴۶ مخ د اله اباد چاپ ۱۹۳۶.

# دا تاريخي ماده چا موندلې ده؟

د بحيره عرب پر ختيزه غاړه باندې " بمبايي" مشهور تجارتي بندر دی او د بهارت ( اوسنی هندوستان) له لويو اوګنې خلکو ( پرنفوسو) ښارونو څخه شمېرل کېږي. د بمبايي ختيز او جنوب خوا ووته چې کومه سيمه پرته ده اوس په رسمي توګه د مهاراشتر په نامه يادېږي او د بهارت له اوه لسو ولايتونو څخه يو ولايت دی. والي يې په بمبايي کي اوسي (۱).

مهاراشتر په سنسکريت ژبه کي د لوی قام معنی لري. د مهاراشتر د نامه لنډ سوی شکل مرهټه دی. د بهارت په اوسني مهاراشتر نومې ولايت کي له پخوا څخه زياتره مرهټې اوسي او د هندوستان له اريايي قامونو څخه شمېرل کېږي. ژبه يې مرهټي ده چې د بهارت د (۱۹۵۰ ع) کال د اساسي قانون له مخې د بهارت په پنځلسو رسمي ژبو کي منل سوې ده.

د مرهټه يادونه د پښتو ژبې نازک خياله شاعر قلندر داسې کړېده:

څو دې لاس رسېږي هرمره ځينې تښته دنيا توره مرهټې ده ادم خوار ادبي ستوري ۲۵۹/۱ د لوی احمد شاه بابا غازي رحمه الله عليه ۱۱۶۰- ۱۱۸۶ ه ق د پاني پت د مشهورې سوبې ۱۱۷۴ ه ق په ښاد نامه کي حضرت امان مرهټې داسې ياد کړی دی:

احمد شاه په کابل ناست و په غرور اودليان ورته ولاړ وو، هر طرف يو سړی ور لره راغی د رامپور ودې کومه عرض ای شاه شرف مظالم د مرهټې را باندې کېږي...

فتحې وکړه هندوستان کي په هرلور په ځنګلونو، په ميرو يې ځغلوله ټول اولس او کلاګانې، کلي کور ځينې پاته خپل ځانونه يې ژغورله:

مـــرهټان لکـــه ګېـــدړ ورنـــه تـــرهېږي
احمدشاه په بېرته لاړ شه تـر خـپل کـوره
پـس له دې چي مـرهټان يـې کـړه پـايمـال
مـــرهټانو تـــه يـــې پـــرېښووه پېغـــوره
پښـــتانه يـــې تـــر ابـــده کـــړه خوشـــحال
تـــر قيامـــت پـــورې بـــه نـــوم دده يادېـــږي

د يوولسمې هجري سدۍ په وروستۍ دريمه کي لکه چي د مغل بابر ( ۹۱۰-۹۳۷ ه ق ) کوري اورنګزيب عالمګير ۱۰۶۸ - ۱۱۱۸ ه ق د خپلې پاچهۍ په شمال لويديزه صوبه ( کابل پېښور) کي له خپلواکۍ غوښتونکو پښتنو سره په خونړيو جنګو اخته و، ان په دغه وخت کي د هندوستان په جنوبي برخه کي نوموړو مرهټو سره په مدهشو لښکر کښيو هم بوخت و.

د ۱۰۷۵ ه ق کال په پای کې د مرهټو ياغي او سرکښه سرغنه سيواجي بهونسله مغلو لښکرو ماتې منلو ته اړيوست(۲) او د ۱۰۷۵ ه ق کال د مياني د مياشتې پر اتلسمه د اطاعت د ثابتولو له پره له خپل مشر زوی سنبهاجي سره د هندوستان د مغلي پاچهۍ پلازمينې اګرې ته ورغی، خو هلته ډېر تېنګ نه سو او د ۱۰۷۷ ه ق کال د صفرې په اوه ويشتمه د ملنګانو په جامه کي له خپل زوی سنبها سره دکن ته وتښتېده(۳) دا ياغي مرهټه سرغنه سيواجي د ۱۰۹۱ ه ق کال د لومړی خور پر پنځمه ۵ - اپريل ۱۶۸۰ ع مړ او پر ځای يې مشر زوی ازمور تر بحث لاندې سنبها ، د سرکښو مرهټو سرغنه سو او د پلار په دود يې په دکن کي د مغلو په پاچاهۍ سيمو باندې د بريدونو لړۍ جاري وساتله، دغه د مرهټو ياغي سرغنه سنبها د پلار تر مرګ اته کاله وروسته د کابل او هندوستان د مغلي پاچهۍ د لښکرو په لاس کښېووت. لومړی ړوند او بيا وواژه سو (۴).

د ۱۱۰۰ هـ ق کال د محرمې په پنځلسمه يې ورور راما او ددوی د کورنۍ تر شل زياتې ښځمنې د مغلي لښکرو په لاس کښېوتلې. ددغې پېښې تاريخي ماده Chro Nogram داده:

بازن و فرزند سنبها شد اسير ۱۱۰۰ هـ ق (۵)

ددغې تاريخي مادې د موندلو نسبت نامتو بېدل پېژاند ډاکټر عبدالغني پاکستانی ابوالمعاني حضرت ميرزا عبدالقادر بېدل (۱۰۵۴- ۱۱۳۳ هـ) ته کړی دی، دده کتاب په پارسي ترجمه احوال و اثار ميرزا عبدالقادر بېدل کي راغلي دي:

چون سنبهاجي دستگير شد. عبارت ذيل از زبان بېدل جارج گرديد، با زن و فرزند سنبها شد اسير قطعه تاريخ اخر الذکرزبان زد همه گرديد و در ماثرالعلما(کذا) ذکراست.(۱۱) (۶).

ددغه رانقل سوی عبارت ماثرالعلما ددغه مخ په ځلرم لمن ليک کي ماثر الامراليکلي(۷) او د تاليف نسبت يې صمصام الدوله شهنواز خان عبدالرازق خوافي (۱۱۷۱ هـ ق مړ) ته سوی دی، د نوموړی شهنواز خان د ماثر الامراء اردو ترجمه زما په کتابتون کې سته ما د نوموړی سنبها د زوی ساهوجي هونسله تر عنوان لاندې څېړنه وکتله هلته يې د سنبها او کورنۍ د بند له پاره دغه تاريخي ماده راوړې، خو د موندونکي (مستخرج) نوم يې نه دی ليکلي د ماثر الامراء د اردو ترجمې عبارت دا دی:

وه سنبها جس روز شاهی لشکر مے داخل هور هاتها سزاليلے تختنه اورتوپے اس کے سر پرتهے پرچهوتا برا خوش تها. با زن و فرزند سنبها شد اسير ۱۱۰۰ هـ ق. اس واقعے کے تاريخ لے (۸).

د اورنګزيب عالمګير د دربار رسمي وقايع نويس محمد ساقي مستعد خان (۱۰۶۱- ۱۱۳۶ هـ ق) په خپل کتاب ماثر عالمګيري (د تاليف ختم ۱۱۲۲ هـ ق) کي د دغې تاريخي مادې موندونکی عنايت الله ښوولی دی. چې د پلار

اورنګزيب عالمګير په دربار کې د شهزاده اعظم شاه (۱۱۱۹ﻫ ق مړ) وکيل و د دربار نوموړی رسمي وقايع نويس محمد ساقي مستعد خان د ۱۰۹۹ ﻫ ق کال په پېښور کې ليکی دی:

د سنبها او کورنۍ دبند تاريخي مادې ډېرو شاعرانو او اديبانو موندلي دي، خو د پاچا اورنګزيب عالمګير د عنايت الله خان موندلې تاريخي ماده:

"با زن و فرزند سنبها شد اسير" ځکه خو ښه سوله چې له پېښې سره يې مطابقت درلود، ددغې تاريخي مادې موندونکی نوموړی عنايت الله خان د پاچا له خوا و نازول سو او انعام يې ومونده (۹).

۱- پخوا د مهاراشتر ولايت اداري مرکز دولت اباد (پخوانی ديوګير) و دولت اباد له بمبايي څخه ختيز لورته لږ شمال ته کوږ تقريباً يوسل وپنځه شپېته ميله واټن لري انديا سنترل ريلوې لين يې جنوب ته تېرېږي.

۲- په دغه وخت کي د پښتو ژبې نامتو شاعر خوشحال خان د رنتهبور په زندان کي بندي و.

۳- د سيوا د تېښتې کال حافظ هدايت الله له دې قراني ايته را ايستلی دی: ان شانئک هوالابتر) په دغه تاريخي ماده کي ت پر ىس شمېرل کېږي.

۴- ددغې پېښې تاريخي ماده ده کافر بچه، جهنمی رفت-۱۰۹۹ ﻫ ق.

۵- په دې تاريخي ماده کي زياتول او کمول نسته. دې ته مطلق تاريخ وايي:

۶- وګ، احوال و اثار ميرزا عبدالقادر بيدل د مير محمد اصف انصاري ارسي ژباړه ۹۹ مخ د کابل چاپ ۱۳۵۱ ش.

۱-د کتاب په غلطنامه ۳ مخ کي دغې چاپي تېروتنې ته هېڅ اشاره نه ده سوې.

- وګ، د ماثرالامراء اردو ترجمه دوهم ټوک ۳۴۵ مخ لاهور چاپ ۱۹۶۹ د پروفيسور محمدايوب قادري ژباړه.

- وګ، د ماثر عالمګيراردو ترجمه ۱۳ مخ د کراچۍ چاپ ۱۹۶۳ ع.

# ايا دوهم خليفه د نو شېروان په وختو کي زوکړی و؟

مولانا کمال الدين حسين ( ۹۱۰ هـ ق مړ- په هرات کي ښخ) چي په واعظ کاشفي شهرت لري (۱) د هرات له وتلو ملايانو او سترو ليکوالو څخه و تفسير حسيني ( مواهب عليه)، جواهر التفسير، انوار سهيلي، جامع المتين (د حضرت يوسف قصه) روضه الشهداء) مخزن انشا (صحيفه، شاهي) اختيارات، لب لباب معنوی، اسرار قاسمي (نيرنجات) اخلاق محسني اونور... دده له مولفانو څخه دي.

اخلاق محسني يې د ۹۰۷ هـ ق کال تاليف دی" ز اخلاق محسني" يې د ابجد پر حساب د تاليف تاريخي ماده ده. دا کتاب مولف د هرات د هغه وختني مغل پاچا سلطان حسين بايقرا ( ۸۷۳-۹۱۱ هـ ق) د زوی ابوالحسن ميرزا (۹۱۳ هـ ق مړ) په نامه ليکلي او پر څلوښتو بابونو يې وېشتلی دي د کتاب په نه دېرشم باب کي چي " رفع اشرار" يې عنوان دی راغلی دی:

" از امير المومنين عمر (رض) در کتاب جواهر الامارت نقل کرده اند که ايشان گفتند: وقتی در جاهليت به تجارت جانب مدائن می رفتم و چهل جامه از برديمانيی با من بود چون به حوالی مدائن رسيدم. دزدان سر راه گرفتند مراغارت کرده بردها بردند. من به صد محنت خود را به مدائن رسانيدم و به دار خواهی به درگاه نوشيران رفتم چون صورت تظلم من به سمع نوشيروان رسيد و بر کماهی حالات من اطلاع يافت، حاجبی را فرستاد تا دست من گرفته مرا به وثاقی فرود او رد وگفت اين جاه باش تا دزد را طلب کنند و بردها را بازستانند، من در ان وثاق می بودم و هر روز از مطيع خاص خوانچه طمام ملوکانه می اوردند و پيش من می نهادند و من هر روز بدرگاه کسری

ميرفتم و نظاره مراسم مملكت دا دى و رعيت پرورى مى كردم تا بعد از چهل روز به و ثاق در امدم.
جامه هاى برد را ديدم نهاده و دستى بريده انجا افتاده و كاغذ چهل تنگه زر سرخ دروى و بران كاغذ نوشته: چهل روز بايستادى تا دزد را بدست اوردند و رخت تو به نزد تو رسيد اين چهل تنگه مزد چهل روز انتظارتست، چون به ولايت خود رسى ازما شكايت نه كنى..."
د رايت او واقعيت ددغه روايت او حكايت منل ردوى دا ځكه چې دوهم خليفه حضرت اميرالمومنين عمر فاروق "رض" د ساسانيانو د نامتو او په عدالت مشهور پاچا نوشيروان تر مرګ څو كاله وروسته زېږېدلى دى. په دې تفصيل:
د حضرت عمر "رض" د زوكړې كال:
د مسلمانانو دوهم راشد خليفه حضرت عمر فاروق"رض" د عمر په باب اختلاف دى.ابن اثير"ابوالحسن عزيز الدين علي بن محمد جزري (۵۵ه-۶۳۰ ق) ليكلي دي:
"وايي : د حضرت عمر "رض" عمر ۵۵ يا ۶۰يا ۶۱ يا درې شپېته كاله و ، خو ما ته وروستى ر وايت يعنې ۶۳ كاله غوره ښكاري ." "۲"
د ابن اثير ددغې ليكنې له مخې د اميرالمومنين حضرت عمر فاروق "رض" د زوكړې كال بايد په روڼ سره "دعلي الترتيب " د عيسوي شمسي سنې له ۵۹۱-۵۸۶-۵۸۵-۵۸۳ كلونو سره برابره وي چې په دغو كي د ابن اثير د انتخاب له مخې ۵۸۳ ع كال د باور وړ بريښي دا ځكه چې حضرت عمر "رض" د (۲۳) ه ق كال د لوى اختر د مياشتې په شپږويشتمه د مغيره ابن شعبه "رض" د فارسي مريي (ابو لولو) فيروزان له لاسه ټپي شوى (۳)او تر درې ورځو ژوند وروسته د دغه كال په ورستۍ ورځ مړ دى. د (۲۳ه ق)كال وروستى ورځ د زاړه تقويم له مخې (۶۴۴) عيسوى كال د نوامبر له (۶) سره

برابره ده. "شوق" به تاريخ اسلام (۴۰۸مخ ، كي د امير المومنين عمر "رض" عمر (۶۳) كاله ښوولى دى چې له دې حسابه بايد د حضرت عمر "رض" زوكړه په (۵۸۴ ع) كال پېښه وي. محمود شيث خطاب هم په الفاروق الفايد مخ كې د حضرت عمر "رض" د زوكړې كال ۵۸۴ع كال ښوولى دى.

شبلي نعماني (۱۹۱۴ع مړ. په الفاروق (۳۰)مخ او اكبر شاه خان نجيب ابادي (۱۹۳۸ع) په تاريخ اسلامي كي (۲۲۶\۱) مخ د امير المومنين حضرت عمر "رض" د زوكړې كال په باب ليكلي دي:

"د مشهورو روايتونو له مخې د حضرت امير المونين عمر فاروق "رض" زوكړه تقريبا تر هجرت ځلويښت كاله د مخه پيښه ده.

په شمسي حساب ځلويښت قمري كاله په شمسي حساب تقريبا ۳۸ كال نه نيمي مياشتې كېږي دغه وروستى عدد چې د هجري سنې له لومړي كال (۶۲۲ع) ځخه و باسو تقريبا (۵۸۴) پاتېږي.

دكتور حسين ابراهيم حسن په تاريخ الاسلام (۲۰۸\۱مخ ) كي د ابن اثير د اسد الغابه في معرفه الصحابه (۵۳\۴ مخ ) په حواله ليكلي دي:

"حضرت اميرالمونين عمر "رض" د اسلام تر پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ديارلس كاله كشر و".

د حضرت محمد "ص" زوكړه پر ۵۷۱ كاله پيښه ده.

ديارلس كاله چې پر ۵۷۱زيات كړو د حضرت عمر "رض" د زوكړې كال ۵۸۴ عيسوى راوځي.

د ايران نامتو ساساني پاچا نوشيروان په ۵۳۱ ع كال پاچا شوى او تر ۴۸كالو پاچاهي وروسته په ۵۷۹ ع كال مړ دى.

د دغې څېړنې له مخې دا ثابتيږي چې د مسلمانانو دوهم راشد خليفه امير المومنين فاروق اعظم حضرت عمر "رض" د نو شيروان تر مرګ ځلور.پنځه كاله وروسته زيږدلى دى او داسې ښكاري چې د جواهر الامارت روايت له

خانه جوړې سوې خبرې دي او په اخلاق محسني کي د هغه نقل کول له تحقیق سره بې پروایي ده.

پای لیکونه:

۱. عبیدالله بن ابو سعید الهروي په مزارات هرات (۴۲\۲ مخ) کي د واعظ کاشیفي د مړګ کال ۹۰۸ه ق لیکلی دی.

۲. ابوالغداد عماد الدین اسمعیل د مماه واکمن ۷۲۲ه ق مړ. پخپل تاریخ (۱۷۴\۱ مخ) کي او د مصر نامتو لیکوال محمد حسین هیکل په "الفاروق عمر" کي د ابن اثیر دغه لیکنه نقل کړېده.

۳. په تحفه العودم (۷۱ مخ) کي د امیر المونین حضرت عمر "رض" د وژونکی لقب بابا شجاع الدین لیکلی دی. په دغه کتاب کي د امیر المومنین حضرت عمر "رض" د تېپي کېدلو او شهادت ورځې سعدي بللې سوې دي.

۴. و: رحمه العلمین (۶ مخ) د علامه محمود پاشافلکي د څېړنې له مخې د حضرت محمد "ص" د زوکړې نېټه (۵۷۱ ع) کال د لومړي خور نهمه ورځ ده خو مشهوره دا ده چي حضرت پیغمبر "ص" د لومړي خور پر ۱۲ دنیا ته راغلی دی.

۵. وګ: تاریخ کامل ایران ۷۸-ایران باستان ۱۸۵\۱ مخ او نور...

# مامون که هارون؟

## ایا رښتیا هم یحیی برمکي د مامون په وختو کې مړ دی؟

حکیم ابوالمجد مجدود بن ادم سنایي غزنوي "رح" د "۵۴۵ ق په شاوخوا کي مړ په غزني کي ښخ" د پارسي ژبې له نامتو شاعرانو څخه. لوی عارف او ستر سالک و، د شعر غټ دیوان لري. حدیقه الحقیقه سیرالعباد الی المعاد. کارنانه بلخ. تحریمه القلم و تجربه العلم مثنوی ګانې او په نثر کي رساله اعتراض مقدمه او مکاتب دده دي. ځینې څېړونکي طریق التحقیق"چي ځینو زادالسالکین بللي دي" بهرام و بهروز. عشق نامه. عقل نامه "چي مدس رضوي د سنایي اباد په نامه په تهران کي چاپ کړېده" هم د حکیم سنایي(رح) بولي. خو په دې نسبت کې شک سته. ځینې څېړونکي خو د بهرام و بهروز مثنوي د کمال الدین بنایي هروي "په ۹۱۸ ق کال وژل سوی" د عشق نامې مثنوي د حکیم شفایي اصفهاني "۱۰۳۷ ق مړ" او طریق التحیق د احمد حسم بن محمود نخچواني ګڼي او زیاتوي چې د "بنایي" او "شفایي" په لوستلو کي له سنایي سره تصحیف پیښ سویدی.
د حکیم سنایي په مولفاتو کي د حدیقه الحقیقه مثنوي "۵۳۸ ق تکمیل" ډېر شهرت او قبول لري ددغه کتاب په لسم باب کي یوه پیښنه راغلې ده چې عنوان یې دی: "ګفتاردر خون ناحق ریختن-حکایت مامون" دا پیښنه داسې بیان سوېده:

چون تبه شد خلافات مامون — ریخت مر خلق را بنا حق خون
کرد برال برمک ان بیداد — که کسی زان صفت ندارد یاد
یحیی بی ګناه را چون کشت — ګشت بروی زمانه تند و درشت
مادری داشت یحیی مظلوم — پیرو عاجز زکام دل محروم

جفت اندوه گشته از بد دهر عیش شرین بدوشده چون زهر
باز گفتند حال مامون را عرضه کردن حال محزون را
که دعای بدت همی گوید ملکت را زوال می جوید
دل او خوش کن و ز حقه بکاه باز بخواه از عجوزه عذر گناه
رفت مامون شبی ز خلق پنهان بر کشاده بعد ز جرم زبان
در و گوهر بسی بد و بخشید راه و سامان کار خود این دید
گفت کای ما در ان قضایی بود چون قضا رفت، زاری توچه سود؟
بعد از این کارهای باهش کن از دعای بدم فراموش کن
گر چه یحیی نماند و یافت گزند من ترا ام بجای او فرزند
من بجای اویم دل خوش دار حقه رکین و دعای بد بگذار
مادر پیر داد کار بداد در زمان پیش وی زبان گشاد
گفت: که ای میر! بازده خبرم من بشخصی چگونه غم نخورم
که اورا چون توبی عوض باشد درست چون جوهر وعرض باشد
بابزرگی که امدت حاصل هم نباشی بجای وی در دل
چون تویی با هزار حشمت وجاه نیست مارا بجای ان دل خواه
چون وی را بگوی: بتوان کرد که بود مادرش زانده فرد؟"
این چنین لفظ چون درشهوار یادگار است زان زن بیدار
گشت زان یک سخن خجل مامون بعد از این خود نریخت هر گز خون

د حدیقې په دغه رانقل سوی حکایت کې دوې خبرې له واقعیته لرې دي:

۱ د پنځم عباسي خلیفه هارون الرشید "۱۷۰-۱۹۳ ه ق" وزیر یحیی برمکي بلخي چا نه دی وژلی. دی د نوموړي خلیفه په زندان کې په خدایي مرګ مړ دی.

د نوموړي يحيى د زوی جعفر برمکي دکوسي. کرسې ابن خلکان" ابوالعباس احمد - ۶۰۸-۶۸۱" په وفيات العيان کي دخپل مشرنيکه نوموړي يحيى برمکي د مړينې په باب داسې ليکلي دي:

" د يحيى د مرګ سبب کومه ښکاره او ټاکلې ناروغي نه وه. پله پسې غمونو او زړتيا لاس سره يو کړ. يحيى يې له منځه يووړ."

ځينو مورخانو دا هم ليکلي دي:
يحيى چي په دې پوه سو مرګ د زندان دروازې ته را رسېدلی دی. يو ليک يې خپل مشر زوی فضل (۱۹۳۵) ه ق زندان کي مړ" ته چې له ده سره بندي و ورکړ چي دده تر مرګ وروسته يې خليفه هارون الرشيد ته ورسوي. ددغه ليک مهم ټکي دا وو: " قد تقدم الخصم الی موقف الفصل و مدعی عليه فی الاثر و الهاکم لايحتاج الی بينه".
ژباړه: مدعې د فيصلې ځای ته ولاړ مدعی عليه په پسې دی او حاکم شاهدانو ته اړ نه دی.
(۳) د يحيى برمکي مرګ ۱۹۰ ه ق کاله محرمې په درېيمه د خليفه هارون الرشيد دخلافت په وختو کي د هارون الرشيد تر مرګ تقريباً درې نيم کاله د مخه پېښ دی. د نوموړي هارون الرشيد زوی اووم عباسي خليفه مامون الرشيد " محرم ۱۹۸ رجب ۲۱۸ ه ق " د يحيى برمکي تر مرګ اته کاله و څو ورځې وروسته د بغداد خلافت ته رسېدلی دی. د هارون الرشيد او مامون الرشيد د خلافتونو تر مينځ د مامون د ورور امين الرشيد د خلافت دوره وه. امين الرشيد د ۱۹۸ه ق کال د محرمې په پنځه ويشتمه په بغداد کي وواژه سو. د خلافت دوره يې څلور کاله او اووه مياشتې او ديرويشت ورځې وې.
دا چي د حديقې په زياترو خطي او چاپي نسخو کي د برمکي وژونکی مامون الرشيد ليکلي دي داړو.

هېچا يې د سهي کولو او سمولو د لاوري نه ده کړې. د نسخه ليکونکو او چاپوونکو د امانتدارۍ ډېره مننه. خو پس له دې چې ځوک حديقه الحقيقت چاپوي. ښه به دا وي چې د مامون پر ځای هارون وليکي دا اړونه نه وزن ته تاوان پېښوي او نه قافيې ته.

هارون او مامون دواړه د " فعلان" پر وزن دي او دا دواړه نومونه چې د قافيې د کلمې په توګه راسي، د دواړو روی " ن" او رديف " واو" دی. دواړه کلمې متحدالروی مردفه قافيه جوړوي. زما په خيال دا بې ازاره اړونه به يو خو د حديقې روايت وحکايت واقعيت ته نژدې کړي او بل به د حکيم سنايي غوندې پياوړي شاعر وينا څه تهذيب شوی وي، د " څه قيد مې له تهذيبه سره ځکه وليکه چې ايراني اديب پوهاند مدرس رضوي د حديقې په پورتني حکايت کې د يحيی برمکي مورته د هارون الرشيد تګ د دوو بېلو پېښو ګډون بولي، دی زياتوي:

مامون الرشيد د خپل وزير فضل بن سهل " چې په ۲۰۲ ه ق کال په سرخس کې وژل سوی دی".

مور ته د پاتا له پاره ورغلی او هغې ته يې ويلي وو: " د فضل پر ځای اوس زه ستا زوی يم".

هارون الرشيد پخپله د يحيی مور ته نه دی ورغلی بلکې يو خط يې هغې ته د تسليت له پاره ورلېږلي دي چې د هغه خط جواب د يحيی مور نه بلکې ددې مړور د جعفر کونډې " عتابې" په خپل قلم ورته ليکلی دی.

# ایا په آل تمغا کې آل د اولاد معنا لري؟

آل تمغا توصیفي ترکیب دی، په دې ترکیب کې پښتو په څېر صفت "آل" تر موصوف "تمغا" وړاندې راغلی دی، د آل او تمغا معناوې دا دي:

آل: په پښتو قاموس ۲۷/۱ مخ کې د سره (سرخ) په معنا کښلی دی، آل په دغه معنا په ظفر اللغات ۵۲ مخ پښتو ژبه ۹۷/۱ مخ او پښتو- پښتو تشریحي قاموس ۶/۱ مخ کې هم شته، د خوشحال خان (۱۰۰) هـ ق مړ په یوه بیت کې آل د سره په معنا داسې راغلې ده:

چې مې اوښکې هسې ال شوې
دواړه سترګې مې سرې لال شوې

(مرغلرې "۲۸۳" مخ)

په پورتني بیت کې آل کلمه ارواښاد لوی استاد علامه حبیبي د مرغلرې د ۲۸۲ مخ په لمن لیک او ښاغلي یار محمد خان مغموم خټک په خوشحال فرهنګ ۲۲/۱ مخ کې په سره او سره رنګ معنا کړېده، ارواښاد استا کامل مومند په کلیات خوشحال خان خټک ۲۴۲ مخ کې پر سره او سور رنګ سربېره یو ډول شراب هم آل بللي دي، ښاغلي مغموم خټک د نوموړي خوشحال فرهنګ په دوهمه برخه کې بیا آل راوړې او د یوه ډول شرابو معنایې پر زیاته کړېده، د آل دغه معنا د سعید اشرف مازندراني په دغه پارسي بیت کې راغلې ده:

لبش گلناري از لعل بتان بوسه ساغر
جمالش چهره ای از آل شیرازی که میدانی

سلیم طهرانی د ال پر ځای د شراب کلمه کار کړیده داسې:

سلیم معتقد نظم خواجه حافظ باش
که نیشه بیش بود با شراب شیرازی

زما " رشاد" گمان دا دی چې د شیراز شراب به په رنګ سره وو او له دغه امله به یې نو د آل په نامه یادول ، خو زما گمان د بهار عجم دا لیکنه د باور پولې ته رسوي:
در تمام ولایت ایران رنگی راکه از گل کاژیره میکشند آل گویند وآن مخصوص است به شیراز که بهترین تمام ولایت ایران در شر از رنگ آل میسازند و شراب شیراز نیز در آن شهرت دارد.
آل کلمه په نورو پارسي لغتنامه کې هم په سره او سره رنګ معنا شویده او د سراج الدین علیخان ارزو (۱۱۶۹ ه ق) مړ په دې بیت کې هم دغه معنا لري:

بر سرما تیره روز ان یار شنجونی زده است
در بر او چون شفق دیدم قبای آل را

خو وارسته سیالکوټي په مصطلحات الشعرا (۲۰ مخ) د (۱۱۸۵ ه ق) تالیف کې راوړي دي:

پخوا آل دسور بخون په معنا و، وروستنیو د مطلق سره په معنا کار کړیدی، لکه شراب آل، چهره آل، جامه آل، گل آل او ....
په برهان قاطع، مصطلاحات الشعرا او شمس اللغات کې چې آل د پاچا د مهر په معنا کښلی دی. دغو ښاغلو مولفانو د موصوف تمغا معنا له صفت آل څخه اخیستې ده. مصطلاحات الشعرا مولف د " منیر" د " کارستان" دا فقره په سند کې راوړې ده: برنسب نامه اهل سخن آل میزنم
دلته مهر چې آل موصوف دی. محذوف مقدر دی
او د شمس اللغات مولف ته دا گمان د تراري قهستاني ( ۷۲۰ هـ ق) مړ له دې بیته پیدا دی:

نشستند و فرمان نهادند آل
که آن است نقش خجسته بفال

پدغه بیت کې آل د هغه فرمان صفت دی چې سور مهر به پرې لګېدلی و.
زموږ د کابل پارسیوانان بلې یا اور ته الو وایي په دوی کې متل دی:
" ده زمستان اَلوَ به از پلو"
په برهان قاطع کې د (۱۰۶۲ هـ ق) تالیف کې الاو الاو د هغه اور په معنا راغلی دی چې سرې لمبې ترې جګېږي د برهان قاطع حاشیه لیکونکی نامتو ایراني محقق ډاکتر معین په لمن لیک کې الاو ته د لمبې معنا کښلې ده او دا بیت یې د شاهد په توګه راوړی دی:

بر اوج گنبد گردون از آن بتابد هور
که یافت از تف قندیل مرتضی الاو

په برهان قاطع کې يې الاوه د نغري په معنا راوړې ده چې هلته اور بلېږي.
په نعنيوبي ژبه (al) اور ته وايي، په کردي ژبه لمبه الاو بولي. آل په کردي کې د سره په معنا دی او آل+يون سور کېدلو ته وايي.
د آل او الاو تر منځ پر لفظي نزديکيت سربېره معنوي اړيکې هم د مجاز په توګه سته او له لمبې او اور سره سور والی لازم دی. پته دې نه وي چې په غياث اللغات د (١٢۴٢ هـ ق) تاليف کې آل دا سره په معنا پارسي لغت بلل سوی دی. خو په ترکي لغت ٧٦/١ مخ کې آل د سره معنا جغتايي ترکي لغت بللی دی او ليکلي يې دي: (په چغتايي ترکي کې د آل يوه معنا سور او سور رنګ دی. په نورو ترکي لغتنامو کې هم د آل کلمې دغه معنا خوندي ده. آل چيچک په ترکي کې د سره ګل په معنا دی په تاتاري ترکي کې هم سور آل بولي.
د عثماني ترکي ژبې شاعر محمد عبدالباقي (٩٣٣-١٠٠٩ هـ ق) کلمه د سره په معنا په دې بيت کې راوړېده.

اشجار باغ خرقه تجريد کير ديلو
باد خزان چمن ده آل آلدی چناردن

ژباړه:
د بڼ ونو د تجريد ګودړې په خان کړېده، د منې باد په چمن کې د چنار سرې پاڼې شکولي دي.
د زړې ترکي ژبې په لغتنامه (٢٢ مخ) کې يې د آل لغت بله معنا سور وربښمين ټوکر کښلی دی چې يې موږ الوان بولو. البته زموږ الوان وربښمين نه دی کنډکين (نخي) ټوکر دی، پښتانه سره رنګ ته الواني رنګ هم وايي.
نوموړي ډاکتر معين آل کلمې ته د برهان قاطع د (٢٨٣ مخ) په لمن ليک کې دا هم کښلي دي. په سنسکريت ژبه کې يې سور رنګ (arusa) باله. ما(رشاد) په

سنسکريت کې دغه کلمه د سره په معناونه موندله. البته پر (aru) کلمې ور پېښ سوم چې په سنسکريت کې يې بوريا غنم رنګ ته ويل په وروستي سنسکريت ژبه کې (الی) د پېغلې يا مينې (معشوقې) په معنا له (aru) سره يې اړيکې نه ښکاري. دا ځکه چې د هندوستان په سکنيو کې غنم رنګ په ښايستو کې شمېرله کېږي. خو په ويدا کې arusa د سره رنګ په معنا سره په ځينو فرهنګونو کې دا هم ليکلی دی چې په هندي ژبه کې ( آل) لورندو ته وايي لورند په پارسي ژبه کې روناس روبين او په اوسني هندي ژبه مجيتهه بولي. د دغه بوټي له رېښو او ښاخو څخه سور رنګ جوړېږي. جرمني ورېښم او ټوکران په رنګوي.

آل کلمه د سره په معنا روسي ژبې ته هم تللې ده. د روسي ژبې د استمولوژي په لنډ فرهنګ (۲۲) مخ کې ليکلي دي (a biu) د (alay) کلمه زړې روسي ژبې له ترکي څخه اخېستې ده او سره رنګ ته الی ويله کېدله د روسي ژبې مفصل استمولوژي فرهنګ هم دا استفاده منلې ده. روسان سور ګل (مذکر) alaq kqpeba (مونث) او سره غوا ybemok albiu بولي. په روسي ژبه کې (alema) د سور کېدلو معنا لري. يوې روسي ليکوالې د خپلې روز نامچې د ۱۹۴۱ ع کال د اګست د شپږويشتمې ورځې په بيان کې راوړي دي:

ژباړه: خوونې د منې (خزان) لپاره تيارې سوي دي. په زرينو او سرو جامو يې ځانونه سينګار کړي دي. په پارسي فرهنګونو کې د آل کلمې نورې معناوې هم کښلې دي لکه:

۱- سکام د کردې ستنې.

۲- يو راز کب (ماهي) دی چې پر بدن باندې د روبي په څېر کردې سرې تپلې لري.

۳- ديوې روې (بلا) نوم دی چې وايي تازه لنګو ښځو ته راځي، د کابل پارسيوانان يې مادر آل بولي. خرافاتي ښځې وايي:

د روې مخ تک سور وي.
په عربي ژبه کې آل د اولاد او ژړی (سراب) معناوې لري.
په ترکي ژبه کې د آل بله معنا چل چم، دروه او تېرایستنه ده مصدره څخه د واخله په معنا د آمر صیغه ده.
په برهان قاطع کې چې آل په ترکي ژبه کې د پاچهانو د مهر په معنا راغلی دی سهي خبره نه ده، په آل تمغا ترکیب کې یې د موصوف معنا له صفته اخیستې ده.

## تمغا:

په پښتو ژبه کې هغه داغ یا نښه تغمه بولي چې د لښتې یا متروکې (غمچنې) د وهلو په اغېزه پر بدن پاته وي، زموږ د زمانې ځلمي شاعر عبدالغفور لېوال جمړ یانې ویلي دي:

د زېښلي سباوون پرېستو شونډو
د ګلپېغلو شونډې بیا تغمې، تغمې دي

د مغول پاچا اورنګزیب (۱۰۶۷-۱۱۱۸ ه ق) د زمانې شاعر خواجه بنګښ د حضرت علي (رض) په ستاینه کې ویلي دي:

دوباره به چا ژوندی لیدلی نه وي
چې خوړلې یې دده د لاس تغمه ده

دلته له تغمې څخه مراد هغه اله ده چې تغمه یې د وهلو اغېزه وي، دې ته په مرسل مجاز کې د موثریت علاقه وایي. د تغمې کلمې مقلوب تمغه ده چې اوس په پاکستان، شمالي هندوستان او سرحدي پښتو کې د نښان او بادرۍ په معنا

کارېږي. دا یې نوې معنا په زړه ترکي ژبه کې تغمه د مهر په معنا وه او(تغمه چي) هغه څوک و چې د پاچا یا امیر مهر به یې ساته چې په پارسي یې مهردار بولي په هغو ایغوري سندونو کې چې پر ۱۴۳۹ ع – ۸۴۳ هـ ق کال لیکلی او په هرات کې موندل سوي دی راغلي دي:

۱ وزیر لیق انگر بردی، تمغه اجاغ:
ژباړه: ده ته یې د وزارت مهر او عزت منصب ورکړ.

۲ کونی بولسبه، قلقی بولور تمغا چي:
ژباړه: که دې منصب و، مهر دار به ځینې جوړ شي.

تمغه کلمه د تمغا په لیک دود پارسي ژبې ته هم راغلې ده، صایب تبریزي ویلي دي:

داغ رسوایی خدا داده است منصور مرا
هست تمغای تجلی لاله طورمرا

ظهوري ترشیزي ۱۰۵۲ هـ ق مړ ویلي دي:

جنس سر چار سوی شهرت نشود
خطی که بر آن نقطه تمغای تو نیست

د تمغا معنا ته په ځینو ملکو او ځینو وختو کې یو راز اتساع پېښ دی. نورې او نوې معناوې یې دا دي:

۱ هغه محصول چې د سوداګرۍ په مالونو اخیستل کېده ابو طالب کلیم ۱۰۱۶ هـ ق مړ د اګرې اکبر آباد په ستاینه کې ویلي دي:

خواجه نصیرالدین طوسي ۶۷۲ هـ ق مړ له وختو رواج سوی دی وایي:
دایران د مغول پاچا غازان خان ۶۹۷- ۷۰۳ هـ ق په وختو کې لېمه سوله په ښارونو کې له منځه ولاړه. د فارس پاچا شاه طهماسب صفوي ۹۳۰- ۹۸۴ هـ ق تمغا محصول بېخي لغوه کړه، خو په هندوستان کې د مغول پاچا جلال الدین اکبر
۹۶۳- ۱۰۱۴ هـ ق وزیر ابوالفضل ناګوري ۱۰۱۱ هـ ق وژل سوی په ائین اکبري ۲۳۶ مخ کې د محصول په معنا دتمغا مفهوم څه نور ښودلی دی، ده کښلي دي:
در هر ملکی جز کشت و کار از مال مردم چیزی خواهند و ان را تمغا گویند.

۲ هغه ټاپه چې د محصول تر اخیستلو وروسته به یې د سوداګر پر مال وهله دا هم یو راز مهر دی.

۳ پاچاهي فرمان، او اله هروي ویلي دي:

روز تفضل سعادات
تمغای قبول حق بطاعات

۴ هغه داغ چي د سرکاري اسانو او اوښانو په کوناټیو به یې واهه، سعید اشرف مازندراني ویلي دي.

برگ لاله ست که فتاده در اغوش نسیم
بر سر هر کفش داغ نشان تمغا

دا هم یو راز مهر و.
زموږ د زمانې هندوستاني لیکوال سیدسلیمان ندوي په لغات جدیده ۱۴۶ مخ کې لیکلي دي:
دمغه کلمه په عربي ژبه کې د مهر او نښان په معنا عربي شوې معربه کلمه ده،
خو په نزهه المشاق فی تاریخ بهر والعراق کې د التمغات په بڼه د تمغا کلمې جمعه د ۶۸۸ ه ق کال په پېښو کې داسې راغلې ده:
" علي الذین الحظایري ضامن التمغات د ۶۸۸ ه ق کال د څلورمې خور په شلمه په بغداد کې د خیانت په ګناه ووژل سو.

## آل تمغا:

د مغلو په پاچاهیو کې دولتي مهر څلور ډوله و. دا ویش د هغو رنګونو له مخه سوې چې مهرونه به په رنګېدل او په فرمانونو او احکامونو لګېدل، هغه څلور ډوله تمغاګانې دا دي:

۱ -آل تمغا: سور ۲- کوکه تمغا: شین مهر ۳- قره تمغا: تور مهر ۴- التون تمغا: زرین، طلایي مهر.

د روسیې نامتو محقق او ختیځ پوه بارتولد (۱۸۶۶- ۱۹۳۰) په ترکستان نامه ۲/ ۸۰۵ مخ کې دوه رازه تمغاګانې راوړې دي، هغه کښلي دي:
د متنونو له لوستلو څرګندېږي چې خانانو دوه ډوله مهرونه (تمغاوې) کارولې، یوه ته یې آل تمغا وایه چې د سره مهر معنا لري او بل ته یې کوک تمغا ویله چې د شنه مهر معنا لري. په پخوانیو متنونو کې د آل تمغا اصطلاح ډېره لیدله کېږي.
معین الدین محمد زمچي اسفزاري ۹۰۲ ه ق د روضات الجنات فی اوصاف مدینه الهرات د ۸۹۷- ۸۹۹ ه تالیف په ۲۱۵ مخ کې لیکلي دي:

جدا علی ابن اصف پناه عالیجاه قاضی شمس الدین محمد از قصبه روزن بر حسب ال تمغای سلطان محمد خدا بنده ۷۰۳-۷۱۶ ه ق اقضي القضات ممالک بود.

حاشیه لیکونکي سید کاظم امام په لمن لیک کې ورته کښلي دي:

آل تمغا په مغولي ژبه سره مهر ته وایي ځکه چې آل سره او تمغا د مهر معنا لري آل تمغایو څلور کنجه مهر وچې پر پرلیفونو ( فرمانونو) حکمونو او لیکونو به یې په سره رنګ لګوه که به دا مهر د سرو زرو د طلا په اوبو لګېدلی و. التون تمغایي باله ځکه چې التون په ترکي ژبه سرو زرو ته وایي که به دامهر په توره سهي لګېدلی و قره تمغایي باله ځکه چې په ترکي ژبه کې قره تور ته وایي.

# د حضرت محمد ^(ص)^ ګور د مسلمانانو قبله نه ده او زمزم د کوثر چینې ته نه ویل کېږي

**Tikam Ramnami** په هندوستان کې د ځینو مغولي شهزداګانو او شاهانو دمعاشقو په باب یو ناول کښلی دی چې **Magauls Magni :feecnt** نومېږي، ددې ناول سریزه ۱۹۶۸ ع کال د دسمبر ۱۶ ، ۲۵ قوس ۱۳۴۷ ش په فرانکفورت جرمني کې کښل سوی او کتاب یو کال وروسته پر ۱۹۶۹ ع کال د هندوستان دبمبي په چاپخانه کې چاپ سوی دی، دا ناول په پای کې یو لغتنامه هم لري چې له ۳۰۶ مخه څخه تر ۳۱۶ مخه پورې په لسو مخونو کې ځای سوېده، په دغه لغتنامه Glossary کې مولف د مسلمانانو د قبلې په باب داسې لیکلي دي:

**Qibla:**

**Tred place in Madina where prophet Mohammad is buried, this word is also used for very reverend person.**

ژباړه: قبله په مدینه منوره کې یو مقدس ځای دی، هلته د مسلمانانو پیغمبر محمد ^(ص)^ خښ دی، دغه لغت د ډېرو مخورو اومعتبرو خلکو له پاره هم کارېږي.

مسلمانان په دې پوهېږي چې **Tikam Ramnomi** د دوی د قبلې په تعریف کې تېروتلی دی د ناول نا مسلمانه لوستونکي هم باید د نوموړي مولف دې تېروتنې ته ځیروي او په دې وپوهېږي چې قبله عربي کلمه ده، هرې خوا ته چې د چا مخ وي د لغوي معنا له مخې یې هغه قبله ده. د پارسي ژبې نامتو شاعر صایب تبریزي (۱۰۸۰) هـ ق مړ ویلي دي:

هر ګروهی قبله ای دارند، ارباب نیاز
قبله حاجت روای ما دل چاکست و بس

په اصطلاح کې کوم لورته چې مسلمانان لمونځ کوي، هغه خوا خپله قبله بولي د مسلمانانو قبله کعبه ده چې په مکه مکرمه کې واقع ده، نه په مدینه منوره کې، نوموړي صایب تبریزي ویلي دي:

هر سو مرو ای دیده که چون از حرکت ماند
رو در حرم کعبه بود قبله نمارا

برنۍ یاده شوې کعبه په قران عظیم الشان کې د بیت الحرام او مسجد الحرام په نومونو یاده شوېده. د مسجد الحرام کعبې لورته په لمانځه کې مخ ګرځول پر مسلمانانو باندې په دې ایت فرض سوی دی:

ژباړه: نو وګرځوئ خپل مخ د مسجدالحرام کعبې په لورې او په هر ځای کې چې اوسې، نو تاسې وګرځوئ خپل مخونه په لمانځه کې په لور د هغې کعبې.

پښتانه مفسر د کامې مراد علي صاحبزاده (رح) کښلي دي:
دغه ایت د هجرت په دوهم کال د رجب د میاشتې په وسط د دوشنبې په ورځ ماسپښین د مدینې منورې په مسجد بني سلمه کې نازل سوی دی چې اوس یې مسجد القبلنین بولي.
د کعبې شریفې په باب په سراج الحج کې داسې راغلي دي:

کعبه یا بیت الله د مکې هغې مقدسې کوټې ته وایي چې حضرت ابراهیم خلیل الله د خدای تعالی (ج) په حکم پخپلو لاسو جوړه کړېده... د ټولو اهل اسلامو قبله هم هغه ده یعنې هغې ته په لمانځه کې مخ کوي او سجده کوي. مسلمانان په دغې قبلې یا (کعبې) طوافونه هم کوي.

مدینه منوره چې هلته د مسلمانانو پیغمبر حضرت محمد (ص) ښخ دي د مکې مکرمې شمال ته پرته ده، ځکه نو په مدینه منوره کې مسلمانان د جنوب لورته لمونځ کوي یعنې قبله یې د مکې لور ته ده او په مکه کې چې مسلمانان لمونځ کوي له څلورو خواوو مخ پر کعبه درېږي.

نوموړي **Tikam Ramnami** د خپل کتاب په لغتنامه **Glossary** کې د زمزم په باب داسې کښلې دي:

**Zum Zum:**

**Saered water of the chernal stream of Khawsor of the paradise of Mohammadans.**

ژباړه: زمزم هغه مقدسې اوبه دي چې د مسلمانانو په جنت کې د کوثر له جاویداني چینې راوځي.

دلته له مولف څخه د زمزم او کوثر چینې ګډې شویدي، دی په دې نه دی پوهیدلی چې د زمزم دعقیدې له مخې کوثر چینه د جنت په دروازه کې واقع ده. د واصل روښاني په دیوان کې حاجي او زمزم کلمې د مراعات النظیر په ډول داسې راغلي دي.

د ګمان له زنګي زړه په سینه تور دی
حاجي هر څو سینه وللې په زمزم ده

د زمزم په باب په پښتو قصص القران کې داسې کښلي دي:

بي بي هاجرې (د حضرت اسماعيل مور) اووه کرتې د صفا او مروه په منځ کې منډې را منډې ووهلې... په فرمان د الله پاک جبرائيل (ع) راغی. مقام د زمزم يې په وزر يا پښه وواهه، له هغه ځايه اوبه ښکاره سوې يا بې واسطې د وزر وهلو الله پاک د اسماعيل له قدمونو سره اوبه راوختېکولې، په اووم کرتې چې دغه وخت چې بي بي هاجره د مروه دېرې ته را رسېدلې وه چې وی کتل نو د اسماعيل (ع) سره يې اوبه په نظر راغلی فی الحال په دغو اوبو پسې راغله. د اوبو نه ګير چاپېر غاړه يې وتړله، اوبه يې له بهېدلو نه بندې کړې، دوی به دا اوبه د زمزم څښلې او الله پاک په خپل قدرت سره دا اوبه د دوی د خوراک، څښاک دواړو لپاره کافي وګرځولې.

په پارسي قصص القران کې هم پورتنی مطلب کټ مټ راغلی دی.

په بدايع الزهور فی وقايع الدهور کې د زمزم تسميې په باب داسې کښلي دي:

اذا سمعت هاتضا يقول ارجعی انبع الله لک الما فرجعت فوجدت الما قد نبع بين اقدام اسماعيل و هويفور ويسيع فخافت هاجره منه فقالت زم زم يا مبارک حتی امسک عن جريانه فلذا سميت زمزم.

ژباړه: هاجرې د هاتف غږ واورېده چې ويل يې: "ستنه شه خدای ستا لپاره اوبه را وختېکولې". هاجره چې د اسماعيل د پروني ځای ته ستنه سوله که ګوري چې د حضرت اسماعيل (ع) له پښو سره چينه پيدا سوېده، اوبه يې خوټکېږي او شاوخوا ته تيتېږي، دا و بېرېدله چې د چينې اوبه به په شګو کې ورکې شي نو يې اوبه ته وويل: زمزم يعني ځئ مه. ځئ مه اوبه ددې په وينا هلته تم سولې او له دغه امله نو ددغې چينې او د هغې د اوبو نوم زمزم سو.

يو نبوي حديث هم ددې نومونې تسميې ملاتړ کوي، وايي حضرت پيغمبر (ص) ويلي دي:

رحم الله ام اسماعيل لوانها لم نقل زم زم يا مبارک فکانت زم زم علينا جاريه.

ژباړه:
خدای دې د اسماعيل پر مور ورحمېږي که دیٔ د زمزم چينې ته زمزم نه وای ويلی، اوس به زمزم يو بهانده چينه وای.
په " بين التاريخ والاثار" نومي کتاب کې هم د زمزم بيان راغلی دی او هلته کښلي دي:
د مکې مکرمې پخوانی نوم وادي اجر و. اسماعيل او مور يې چې ابراهيم(ع) دغې ناوې ته راوستل د دوی د تکريم لپاره لوی خدای د زمزم چينه پيدا کړه.
په سراج الحج کې راغلي دي:
اننګي د کعبې د غلاف د کعبې د دېوال سر موږه ...
بيا د زمزم کوهي ته لاړ سه. قبلې طرف ته مخ کړه ودرېږه او د زمزم اوبه په مړه ګېډه په درېو دمو سره ښه طرح وڅښه او زياتې اوبه پخپل بدن باندې واچوه.
اوس هم چې حاجيان له مکې مکرمې څخه خپلو ټاټوبو ته ستنېږي.يو څه د زمزم اوبه د سوغات په توګه تبرکاً ور سره راوړي.

John. B. Nos پخپل کتاب Man s Religions کې د زمزم د موقعيت په باب ليکلي دي:
د زمزم څاه د کعبې له ودانۍ څخه څو ګامه لرې ده ( وګ د مکې د ښار بحث) دا و زمزم چې د کعبې (بيت الحرم) په غولي کې د کعبې او صفا تر منځ د يوې چينې نوم دی. اوس راځو د کوثر څېړنې ته:
په يوه نبوي حديث کې راغلي دي:
" بينماانا اسير فی الجنه اذا انا بنهر حافتاه قباب الدرالمجوف قلت ما هذا يا جبرئيل"

ژباړه: کله چې زه په جنت کې رهي وم یوې ویالې ته ورسېدم چې پر غاړو یې د ډډو (منځ تشو) مرغلرو قبې وې. ما له جبرئیل څخه پوښتنه وکړه: دا څه شی دی؟ ده په جواب کې راته وویل: دا کوثر دی چې خدای(ج) تا ته در بخښلي دي، ددغې ویالې خټې خاص (سپېڅلي) مشک دي.

مولوی غیاالدین رامپوري په غیاث اللغات کې دا هم زیاته کړېده:

د کوثر ویاله خو په جنت کې ده مګر حوض کوثر تر جنت د باندې دی او د کوثر چینه له دغه حوضه را خوټکېدلې ده.

په یوه نبوي حدیث کې د حوض کلمه هم راغلې ده: انا فرطکم علی الحوض.

ژباړه: فرط د فا او را په زورونو په عربي ژبه کې هغه سړي ته وایي چې تر کاروان د مخه مزله ته د مسافرو د خوراک، څښاک د تیارولو لپاره لېږل کېږي، حضرت پیغمبر(ص) خپلو ملګرو صحابه ووته وویل: زه ستاسې فرط یم او په حوض د کوثر باندې به ستاسې لار څارم.

انګریز ختیځ پوه ډاکتر والتربیلیو په پښتو انګریزي ډکشنرۍ کې د زمزم او کوثر معناوې داسې کښلې دي:

زمزم – Magnificent Maghull (زمزم د هاجرې څاه ده، په مکه کې).

کوثر- Name of a well in Paradise (کوثر په جنت کې د یوه څاه نوم دی).

لمن لیکونه:

۱- وګورئ د فواید موضوع القران پښتو ترجمه ۱۰۸/۲- ۱۰۹ نمونه د کابل چاپ ۱۳۴۸ هـ ش دوهم چاپ.

موضوع القران د حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي(۱۱۱۴-۱۱۶۷هـ ق) د افتح الرحمان ترجمه القران اردو ترجمه ده چې د مولف دریم زوی مولینا عبدالقادر (۱۲۳۰ هـ ق مړ) کړی او د دیوبند ددارالعلوم استادانو شیخ الهند مولانا محمد الحسن (۸- ۱۳۳۹ هـ ق مړ) اومولانا شبیراحمد عثماني څه اضافي او حاشیې پر کښلی دي.

۲- وګ: تفسير يسير( پښتو) لومړی ټوک ۵۶ مخ، دهلي چاپ ۱۳۳۵ ه ق (دوهم چاپ).
۳- وګ: سراج الحج دميرزا دوست محمد پښنوری تاليف ۱۷ مخ ۱۳۲۹ ه ق ( ۱۹۱۱ ع) چاپ، لاهور.
۴- وګ: پښتو قصص القران د روح الله تاليف ۱۱۲-۱۱۳ مخونه د پښور چاپ او د شيخ الاسلام کتاب، ديارلسم جز.
۵- وګ: پارسي قصص القران دصدرالدين بلاغي تاليف ۵۴-۵۵ مخونه د ايران چاپ ۱۳۳۰ ه ش.
۶- وګ: بدايع الزهور فی وقايع الدهور د شيخ محمد بن احمد بن اياس الخفي تاليف ۷۱ مخ (د پاکستان چاپ)
۷- بين التاريخ و الاثار د عبدالقدوس الانصاري تاليف ۱۹-۲۰ مخونه د بيروت چاپ ۱۹۶۹ ع.
۸- وګ: په صراح- مختار الصماح- او منتهي الارب کې د کژ ماده- او په المنجد او معجم العربي الحدث کې د کوثر کلمه.
۹- وګ: تفسير القادري شرح صحيح البخاري ۶/ ۱۰۸ مخ- مشکوه المصايح ۴/۱۶۰مخ اشقه المعات ۴/۴۰۴ مخ.
۱۰- وګ: ځينې مفسران وايي: له انا اعطيناک الکوثر څخه دغه وياله مراد ده چې په جنت کې بهيري او ځينې بيا په دغه ايت کې راغلی کوثر په ډېر خير سره معنا کوي ( وګ، پښتو تفسير يسير ۲/۹۲۸ مخ.
- د فوايد موضع القران پښتو ترجمه ۶/۱۰۳۲- فتح الرحمان بترجمه القران ۷۲۰- تفسير يعقوب چرخي ۱۸۳ تنوير القياس عن تفسير ابن عباس ۴۶۲۰ مخ او فو...
۱۱- په فوايد موضع القران کې ليکلي دي: دغه حديث د تر درجه لري.
۱۲- تفسير القادری شرح صحيح البخاري ۶/۱۱۲مخ

# کاکړ که غلجي؟

موږ د دیرلسمې هجري قمري سدۍ په نومړۍ نیمایي کې د معلومو کندهاري شاعرانو او لیکوالو په لړ کي دوه تنه شمس الدین نامي پېژنو چې مشخصات یې دا دي:

۱- د پښتو دیوان تښتن شاعر شمس الدین چې پر ۱۲۳۸ ه ق کال یې خپل دیوان بشپړ کړ او په خاتمه کې، یې دغه مطلب ته داسې اشاره کړېده.

د هجرت کلونه څه وو؟
زر دوه سوه دېرش اته وو

دغه شمس الدین په ختېه کاکړ دی. ده ویلي دي:

شمس الدین کاکړ په څه بې تمیز نه وي؟
چې بدل یې د ننګ شال کړ په شړۍ
(چاپي دیوان ۳۱)

شمس الدین کاکړ د کندهار د کولچابات نومي کلي اوسېدونکی و. دغه کلی د کندهار د احمد شاهي ښار جنوب شرق لور ته تقریبا اته کیلو متره لیرې پروت دی. دی وایي:

شمس الدین ګل دی په کندهار کې
د دښمنانو په نظر خار دی

(چاپي دیوان ۱۵۷مخ)

یا

لکه لعل په اېرو کې وي بې قدره
هسې پروت دی شمس الدین کولچابات

(چاپي دیوان ۳۲)

د شمس الدین کاکړ دیوان په ۱۳۳۳ ه ش کال په کابل کې پښتو ټولنې چاپ کړی او ښاغلي عزیزالله خان واصفي مقدمه پر کښلې ده. ددغه چاپي دیوان د بیتونو شمېره تر پنځسو زرو اوړي. (۱)

۲- د مسجع نثر لیکوال د څلورو پښتو مذهبي کتابونو مولف شمس الدین خان په ختنه غلجی ښیي(۲) دده یو کتاب چې خلاصه المریدین نومېږي او د شمس الدین کاکړ د دیوان تر بشپړولو اتلس کاله د مخه پر ۱۳۲۰ ه ق کال کښل سوی دی پر ۱۳۴۴ ه ش کال د کابل پوهنتون له خوا د کابل د پوهنې مطبعه کي چاپ او خپور سو.

ژبه یې پښتو ده د عرفان او تصوف مسالې یې څېړلي دي. مقدمه یې چې په دیرلسو مخونو کې ځای سوېده د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي وتلي اومنلي استاد ښاغلي پوهاند میر حسین شاه کښلې ده. د دوو نسخو مقابله سمونه او اهتمام یې (اوسني ډاکتر) ښاغلی بسم الله خان ځیرمن کړی دی. (۳)

په خلاصه المریدن کې مولف یو ځای کشکنخودي بللی او بل ځای یې ځان ساکن وطن کشکنخود ښوولی دی (۴).

کوشک نخود د پخواني کوشک الرخج، د کندهار او ګرش " دمیرزایانو ګرشک" د لارې پر سر د یوې سیمې (یاولسوالی) نوم دی. کوشک نخود د کندهار د احمد شاهي ښار څخه لویدیز لورته تقریباً اویا کیلومتره واټن لري.

ښاغلی پوهاند میر حسین شاه د خلاصه المریدین په مقدمه کې ددغه کتاب مولف شمس الدین کاکړ بللی دی. په پښتانه شعرا لومړی ټوک او د شمس الدین کاکړ د دیوان په مقدمه ( یا- خاتمه) کې یې هر څه معلومات چې د شمس الدین

کاکړ په باب موندلي دي هغه يې د خلاصه المريدين په مولف شمس الدين پورې تړلي دي او دې ته يې نه دی پام سوی چې د پښتنو په معمولو نسبي شجرو کې کاکړ د غرغښتيو يوه پښه ده او غلجي په بېټنيو پورې نښلي.

د مقدمې بله د تامل خبره داده چې نوموړې مقدمه ليکونکي ليکلې ده:

" ډېر احتمال لري چې دی (شمس الدين کاکړ) خپل وطن ته د (هندوستان له سفره) له بېرته راتګ وروسته په کشکنخود کې وفات او هلته ښخ شوی وي". مونږ وينو چې د شمس الدين کاکړ په درست ديوان کې سره ددې چې د خلاصه المريدين تر تاليف اتلس کاله وروسته بشپړ سوی دی يو وار هم د کوشک نخود د (کوشک الرخج) يادونه نه ده سوې.

- ښاغلي زلمي هېوادمل دې برکت يوسي چې په فرهنګ زبان و ادبيات پښتو ۲۵۵ مخ کې يې د ديوان تښتن شاعر شمس الدين کاکړ او د خلاصه المريدين مولف مسجع نثر ليکونکی شمس الدين سره بېل کړي دي، خو دې تېروتنې ته يې اشاره نه ده کړې.

## اخځونه (لمن ليک)

۱- وګ: پښتانه شعرا ، ۲/۳۷۰ د شمس الدين کاکړ د چاپي ديوان مقدمه چې په خاتمه کې چاپ سوېده، د سراج الدين خان سعيد او مولوي صالح محمد خان هوتک تذکره الشعراء ۱۶۲ . د زلمي هېوادمل، فرهنګ زبان و ادبيات پشتو، ۱۵۶ مخ.

۲- وګ: چاپي خلاصه المريدين ۷۵ مخ ( دلته د غلجي پر ځای غلجين کښلی دی).

۳- د خلاصه المريدين يوه خطي نسخه د کابل پوهنتون او بله د پښتو ټولنې په کتابتون کې خوندي وه.

۴- وګ: چاپي خلاصه المريدين ۵۸-۷۵ مخونه.

# علي زی که غلزي؟

زه چې کوچنی وم د کهاله له مشرانو څخه به مې د " خوني نادر" او دده د خونريزيو قيصې اورېدلې، دوی به ويل " خوني نادر چې په کومه ورځ يومن سترګې نه وې کښلې، په هغه شپه خوب نه ورته" په کومه ورځ چې به مې د خوني نادر قيصې اورېدلې وې په هغه شپه به په خوب کې بېريدلم، ما به ګومان کاوه کومه بلا زما د سترګو د کښلو په تکل کې ده.

څه چې غټ شوم، مکتب ته ولاړم، په ليک ولوست وپوهېدم د افغانستان د وروستيو سديو تاريخ مې ولوست، هاله پوه شوم چې خوني نادر د پارس يو ظالم باچا و چې دوی يې افشار نادر بولي (١) بيا چې د مطالعې سوم په خزانه عامره (٣٧١ مخ) کې مې ولوستل چې:

" افشار نادر په کرمان کې يو منصبدار وګماره د وژل شويو له ککريو (کله منار) جوړ کړي، يوه ګړی وروسته ګمارل سوي منصبدار راغی او عرض يې وکړ. نور کله منار جوړ سو، يو سر کمبود دی، افشار نادر حکم وکړ: دده سر غوځ او کله منار به بشپړ کړئ (٢).

دغه افشار يا د پښتنو په وينا خوني نادر د ( ١١٤٣ ه ق په پای د ١٧٣١ ع) کې هرات تر لسو مياشتو جنګو وروسته د ابداليو(درانيو) پښتنو له لاسه ويوست، شپږ زره کوره ابدالي پښتانه يې د غني خان الکوزی او نور محمد خان علي زی ترمشرتابه لاندې د مشهد (پخوانی طوس) سيمې ته وکوچول (٣). ( ١١٥٠ ه ق کال د لوی اختر په دوهمه ورځ د اپريل ١٧٣٨ ع) يې په کندهار کې د هوتکو پاچاهي رنګه کړله، کندهار ښار يې چې تر يوه کال کلا بندی وروسته نيولی

وکنډواله کړ او ددغه ځای پښتانه یې مشهد، ما زندان، ورامین، تهران او نیشاپور ته فرار کړل.

د افشار نادر په لښکرو کې د پښتنو یو فوج هم و چي دهغه سالار به میرافغان باله کېده، د افشار نادر د پاچاهۍ په وروستو لسو کلونو کې (غالباً تر غني خان الکوزی وروسته) نور محمد خان علی زی میرافغان و- نور محمد خان میرافغان په علی زیو کې پېزری او پېزریو کې کلی زی و، پلار یې حاجي اسمعیل خان دهرات د ابدالیو په واکمنۍ کې د لوړ اعتبار تښتن و (۴).

د غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا(رح) " ۱۱۶۰- ۱۱۸۶ ه ق خور له دغه اسمعاعیل خان علی زی " ابدالي" ښځه وه. نوموړي نورمحمدخان میر افغان یې بتری و افشار نادر چې " ۱۱۶۰ ه ق کال د څلورمې خور په یوولسمه شپه " ۱۷۴۷ ع" د مشهد په شمال کې خبوشان" اوسنی فوچان" ته نژدې په فتح اباد کې د خپلو څو تنو قزلباشو منصبدارانو له خوا وواژه سو" (۵).

د کندهار د نادر اباد په شهر سرخ زیارت کې د پښتانه پاچا د ټاکلو لپاره جرګه جوړه سوه او (۹) ورځې وپائیدله.

میرافغان علی زی نور محمد خان چې په دغه جرګه کې د یوه غړي په توګه ګډون درلود هره شپه به یې د پښتنو د پاچاهۍ خوبونه لیدل، خو بخت یې ملا نه وتړله او د پښتنو پاچهي د احمد خان سدوزي " وروستی غازی ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا" په برخه سوله، نور محمدخان علیزی" خوني نادر د وختو میرافغان" خو په خوله څه ونه ویل مګر په زړه کې یې د یاغي توب نقشې جوړولې، د لوی احمد شاه بابا د پاچهۍ په لومړي کال د پښین کالخوایه کرام خان بتې زی ترین او د ښوراوک کالخوایه مقصود خان برېڅي د کندهار دربار تر له راتګ څخه لته وکړله دا د نور محمدخان علي زی د یاغیتوب لپاره پلمه شوله، میاداد خان ساکزی، عبدالرحمان بارکزي، توپچي باشي او ځینو نورو ناراضو خانانو د پښین او ښوراک له کالخوایانو سره په پټه لاس یو کړ. غوښته یې دوی د کندهار په ښار

کې د احمد شاه بابا د پاچهی ماني را ګروبه کړي. احمد شاه په را خبر سو، ژر يې د بغاوت مخه ونيوله - د باغيانو سرغنه نوموړي نور محمد خان علی زی، مياداد خان ساکزی، او د دوی نور ملګري ووژل (۶) په کندهار کې (سنزرې) د ابداليو
" درانيو" عليزيو کلی دی، د نور محمد خان عليزي مړی په (سنزري) کې خاورو ته وسپارل سو، قبر يې د سنزرې د ولې " ويالې" په ژی کې مانده ته نژدې واقع او تر اوسه مشهور دی او د نور محمد خان نيکه د قبر يا يکه خاک پر نامه يادېږي "۹".

اوس د نور محمد خان نيکه د قبر لويديز لور ته سنزري مسجد جامع جوړه وه په دغه جامع کي د جمعو او اخترو لمونځونه هم کېږي. د هلمند په ناوه کې زيندار" زميندار" د عليزيو عمومي ټاټوبی دی، عليزی د ابداليو " درانيو" يوه غښتلی او مشهوره قبيله ده. د نور محمد خان نيکه کورنی چې دمير افغان د کهاله په نامه يادېږي اوس د زينداور په " تله رغ" او " البلاغ" کې مېشته دي. د زينداور او زوړ تاريخي کالی" زور" د چارباغ په ناوه کې " تله رغ" او " البلاغ" ته نژدې واقع دی. ويل کېږي د ارواښاد عبدالروف بېنوا اخښي" دخور مېړه" حاجي نور محمد خان شهيدچي په ملحد شاهي فتور کې وژل سوی دی. د ميرافغان له کهاله څخه و.
زموږ د ملک" افغانستان" نامتو تاريخ پوه ارواښاد غلام محمد خان پرملي چې په خپل تخلص " غبار" شهرت لري پخپل يوه کتاب " ۴۱۸ مخ" کې چې " احمد شاه بابا" نومېږي او درې پنځوس کاله پخوا په ۱۳۲۲ ه ش کال په کابل کې چاپ سوی دي. دغه زموږ تر بحث لاندې علی زی نور محمدخان ميرافغان قبيله " غلزی" کښلې ده، خو ما له ګڼه ليکلي " عليزی" سره د تصحيف ګمان پر کاوه او کله به مې لا چاپي تېروتنه ګڼله، خو د نوموړي ارواښاد ښاغلی غبار په بل کتاب کې چي افغانستان در ميسر تاريخ نومېږي پر ۱۳۴۷ ه ش ۱۹۶۷ کال په کابل کې چاپ سوی دی. دوه ځايه " په ۳۴۷-۳۵۴ مخونو کې" د غلزي پر ځای

د میرافغان نور محمد خان علی زی قبیله " غلجايي" کنبلې ده، چې زما د تصحیف ګمان یا د چاپي تېروتنې امکان يې له منځه یوور.

زما خیال دا دی چي په دغه تېروتنه کې به د تاریخ سلطاني د ۱۲۱ مخ تېروتنې د اروانباد ښاغلي غبار لار وهلې وي، زه هریان یم چې اروانباد ښاغلي غبار ولې د تاریخ سلطاني ۱۲۲ او ۱۲۷ مخونو ته نه دی پسې ور تېر سوی. ددغه نور محمد خان قبیله په ۱۲۲ مخ کې یو وار غلیزائي او بل وار علیزايي او په ۱۲۷ مخ کې هم علیزايي کنبلې ده (۱۰) په اردو ژبه کې دوه نور کتابونه هم معلوم دي چې دغه تېروتنه يې کړېده په نیرنګ افغان (۲۸) مخ کې دمیرافغان نور محمدخان سره " غلجی" (۱۱) او په حیات لودي حصه دوم (۲۷) مخ کې " غلزي" کنبلی دی خو د حیات لودي مولف یو مخ وروسته بیا په (۲۸) مخ کې د میر افغان نور محمد خان د پلار حاجي اسماعیل له نامه سره علیکوزي لیکی دی؟ او د دریمې حصې په پیل کي چي يې کومه صحت نامه چاپ کړېده هلته يې نورمحمد خان "غلزيي" په نورمحمد خان "علیزيي" سهي کړیدی (۱۲).

د اروانباد ښاغلی غبار دغې تیروتنې دغو کتابونو او مقالې ته هم لار کړېده:

۱. نامه احمد شاه دراني به مصطفی ثالث (۱۹) مخ (۱۳)

۲. تاریخ سندھ (اردو) ۵۳۵مخ (۱۴)

۳. د زیري اخبار ۱۳۶۴ش کال د قوس په اته ویشتمې ګڼه کې د مقالې لیکوال یوګام وړاندي اخستی او دښاغلی غبار "غلجايي" يې په سلیمان خیل تخصیص کړیدی؟

ښه به دا وای چي دغو تیروتونکو دغو کتابونو ته رجوع کړی وای:

۱ په نامه عالم ارای نا دری (۶۷۶ مخ) کي کاظم خان مروي غالبا ۱۱۶۳ ھ ق کال نور محمد خان ابدالي (دراني) بللی دی. دا کتاب په ۱۹۶۲ ع کال په مسکو کې چاپ سوی دی.

۲ تاریخ احمد شاهي د لوی احمد شاه بابا د دربار منشي محمود الحسین جامي ددغه کتاب په لومړی ټوک ۶۶ مخ کې نور محمد خان علیزی لیکلی دی، دا کتاب پر ۱۹۸۴ کال په مسکو کې چاپ سوی دي.

۳ په تاریخ وقایع و سوانح افغانستان (۳۴-۳۷ مخونو) کې علیقلي خان اعتضاد السلطنه پر ۱۳۷۴ هـ ق کال نور محمد خان علیزایي لیکلی دی.

۴ په حیات افغاني (۱۲۸) مخ کې محمد حیات خان نور محمد خان او پلار یې حاجي اسماعیل خان دواړه " علیزایي" کښلي دي. دا کتاب پر ۱۲۸۱ ش کال په هندوستان کې چاپ شوی د پښتو ترجمې په (۲۰۸/۱ مخ) کې یې چې پر ۱۳۸۰ ش کال په کابل کې چاپ سوی دی هم علیزای راغلی دی.

۵ په صولت افغاني (۳۴۰ مخ) کې زر دارخان تاغر پښتانه، نور محمد خان علیزی بللی دی. دا کتاب پر ۱۲۹۸ هـ ق کال تالیف او په (۱۲۹۳) هـ ق (۱۷۸۶ ع) په کانپور کې چاپ سوی دی.

۶ په سراج التواریخ کې فیض محمد هزاره د نور محمد خان قبیله " علیزایي" لیکلې ده. دا کتاب پر ۱۳۳۱ کال په کابل کې چاپ سوی دی.

۷ د پښتنو دتاریخ په لومړي ټوک (۱۰۰-۱۰۷) مخونو کې ارواښاد قاضي عطاالله خان د نور محمد خان قبیله (علی+ زی) کښلې ده، دا کتاب پر ۱۹۳۱ ع کال تالیف اوپر ۱۹۴۷ ع کال په پېښور کې چاپ سوی دی.

٨ Ahmad Shah Durrani د اتم فصل (٨ مخ) کي Prof. Gand Singh نور محمد خان Alizei کښلی دی، دا کتاب لومړی پلا په ١٩٥٩ او دوهمه پلا په ١٩٧٧ په کوټه کي چاپ سوی دی.

٩ The Pathans (٢٥٣ مخ) کي سر اولف کیرو نور محمد خان ابدالي د (دراني) او په ابدالیو کي Alizei بللی دی، دا کتاب پر ١٩٦٥ کال چاپ سوی دی.

١٠ په احمد شاه وارث د مجدد امپراتوري افغانستان (٥۴/١ مخ) کي ښاغلی غزیزالدین خان پوپلزی هم "علیزی" کښلی دی، دغه کتاب د افغانستان در مسیر تاریخ تر چاپ دیرلس کاله وروسته پر ١٣٥٩ هـ ش کال په کابل کي چاپ سوی دی.

د ارواښاد ښاغلي غبار پر پله تلونکي دې يې وګوري.

## لمن لیکونه

١- افشار دترکمنانو یوه ښنه ده، د کابل په لویدیز برخه کي یو کلی هم د افشارپه نامه سته د افشار په نامه یو بل کلي کي د کابل ښار په جنوب کي دارالامان ته نژدې هم سته.

٢- خزانه عامره د ازادو بلګرامي (١٢٠٠ هـ ق مړ) د ١١٧٦ هـ ق تالیف د کانپور چاپ.

٣- وګ: صولت افغاني ٣۴ مخ.

۴- په نامه عالم ادای نادري ( ۶۷۶/۱ مخ) کي له دلاور خان تایسني سره د جنګ کي کښلي دي: " فوجی که از غازیان ابدالی در رکاب عالی بر د برداری نورمحمد خان ولد اسماعیل بیګ ابدالی دیوان بیګی بریک سمت ان جبال ..."

۵- د تهتهي اخوند عبدالقادر د افشار نادرد مرګ تاریخي ماده داسې ویلې ده:

خوش خبر هاتف فرمود زغیب
محو شد افت نادر ز جهان

۶- د احمد شاهی دربار منشي محمود الحسین حاجي دا پېښه د لومړی کال په پیسوړ کي راوي ده (وګ- ۶۷-۵۷/۱ مخونه) اروانباد غبار او ځینو مورخینو دا پېښه د احمد شاه بابا د پاچا کېدلو د دریم کال ( ۱۱۶۲ هـ ق) په پیسوړ کي راوړې ده.

# ابوالنورين

# كه

# ذوالنورين

- په جنوب هندوستان كې يو ښار د ميسور په نامه يادېږي په دغه ښار كې پر ۱۹۲۲ ع د ۱۳۴۰ هـ ق كال يو كتاب چاپ سوى دي چې " **Coms of India**" نومېږي په دغه كتاب كي مولف" ختيځ پوه "**J.C. Brown** " د هندوستان پخوانۍ سكې څېړلې او د هغه تصويرونه يې كښلي دي. دغه كتاب له ۸۹ مخ په هيسته د سوري پښتنوپاچاهانو سكې راغلي دي. په دغو سكو كي د شمالي هندوستان اوسنى بنګله ديش او اوسنى پاكستان د برميالي پاچا سلطان العادل غازي شېر شاه سوري(رح)
" **۹۴۷- ۹۵۲** هـ ق" د سپينو زرو د ګردې سكې " روپۍ" تصوير داسې نقش كړى دى. د روپۍ پر يوه مخ يوه هندسي مربع كي كلمه طيبه او څلورو اړخونو ته يې د مربع دضلعو او د دايرې د محيط تر منځ د څلورو راشدو خليفه ګانو " رضي الله عنهم" نومونه كښلي دي. په دغو مباركو نومونو كي **J.C Brown** د مسلمانانو دريم راشد خليفه حضرت عثمان بن عفان(رض) ( **۲۴-۳۵** هـ ق) لقب غلط لوستى دى او د " ذوالنورين" پر ځاى يې " ابوالنورين" ليكلى او انګريزي ژباړه يې له خپل غلط لوست سره سمه داسې كړېده:

- **Father of two light**

ژباړه: د دوو رڼا وو پلار.

د "J.C. Brown" دغه لوست د ابوالنورين په بڼه سهي نه دی د حضرت عثمان(رض) لقب " د رفع او نصب په حالت کي" ذوالنورين" او " جريه حالت کي" ذی النورين" دی، دا لقب ځکه ده ته ورکړ سوی دی چي د مسلمانانو د پيغمبر محمد(ص) دوې لوڼې" رقيه، ګلثوم" دده په نکاح کي وې، رقيه چې مړه سوله، ګلثوم يې ورکړله"۱" ذوالنورين عربي کلمه ده. دغه کلمه له څلورو مورفيمونو "Morphems" جوړه ده داسې:

۱- ذو: د خاوند "تښتن" او مالک په معنا.

۲- ال: د تعريف معنوي واحد.

۳- نور: د رڼا په معنا.

۴- اين: "ayn" د تثنيې شاوندي. "Suffix".

د ختيځ پوه "J.C. Brown" تېروتنه د " زر" په معنوي واحد کي پېښنه ده ځکه نو دلته ددغه مورفيم په باب څه زيات معلومات ګرانو لوستونکو ته وړاندې کوم پدې ډول:

د مفرد مذکر "Sing mase" له پاره د نصب او رفعې په حالت کي که " ذو" کارېږي لکه:

ذواليمينين: د افغانستان د طاهريانو د واکمنۍ د تاداو ايښودونکي طاهر بن حسين بن مصعب پوشنګی هروي " ۲۰۷ هـ ق مړ" لقب دی وايي:

ده ۱۹۵ هـ ق کال د علي بن عيسی بن هامان سره په جنګ کي په دواړو لاسو توري وهلې، عباسي خليفه مامون الرشيد " ۱۹۸- ۲۱۸ هـ ق" چي په خبر سو دغه لقب يې ورکړ يعنې د دوو داسې لاسو تښتن دی چې دواړه د ښي لاس کار کوي.

ذواليمينين يوه نجومي اصطلاح هم ده چي په التفهيم لا وائل صناعته " ۴۸۹ مخ کي علامه ابوريحان محمد بن احمد البېروني الغزنوي " ۳۶۲- ۴۴۰ ﻫ ق " په کوکب دو دست درست ژباړلې ده. د ذواليمينين يوه ضد ذواليسارين دی چی نوموړی البېروني په کوکب دو دست چپ ژباړلی دی، نجوميان وايي:

ذواليمينين غالب او ذواليسارين مغلوب وي، ابو سعيد عبدالحی بن ضماک بن محمود ګرديزي پخپل تاريخ زين الاخبار " ۴۴۰ ﻫ ق تاليف" کي د نوموړي طاهر د لقب" ذواليمينين" سبب دا نجومي اصطلاح بولي او ليکي: طاهر چي د مامون الرشيد په حکم د عليبن عيسی بن هامان جنګ ته ووت، فضل بن مبارک وويل: ده د وتلو په وخت کي ذواليمينين ستوری څرګندو ځکه نو دی بری مومي مامون الرشيد تر بري وروسته طاهر ته ذواليمينين لقب ورکړ. (۲)

ذوالقرنين:

په قران عظيم الشان " سوره کهف" کي دده بيان راغلی دی، ده د ياجوجو او ماجوجو په مقابل کي يو بند " سد" جوړ کړی دی، ذوالقرنين د دوو قرنو خاوند معنا لري د قرن په معنا کي اختلاف سته:

ذوالجوشن: د سيد الشهدا حضرت حسين بن علي(رض) د وژونکي شمر د پلار لقب و.

ذوالشهادتين: د خذيمه بن ثابت(رض) لقب و.

ذوالخمار: د مالک بن نويره او عوف بن ربيع رضي الله عنهما لقب و، لغوی معنا يې د نقاب تبنتن و، دوی به په جنګونو کي مخونه په نقابونو کي نغښتي وو، فقط دوې سترګې به يې ښکارېدلې.

ذومخمریا ذومخبر: د حبشې د پاچا نجاشي وراره و د حضرت پیغمبر(ص) خدمت یې کړی دی.

ذوالنون: د حضرت یونس(ع) لقب و ځکه چي ده یوه اونۍ (هفته) د ماهي په نس کي ژوند کړی و، نون په عربي کي کب " ماهي" ته وایي. ذوالنون مصرې په نامه یوولي هم تېر سوی دی.

ذوذوابه: یوه نجومي اصطلاح ده علامه البېروني په ستاره باگیسو ترجمه کړېده ذوابه په عربي ژبه کي کوڅۍ ته وایي، اوس دغه ستوري د نباله دار بولي، مخوس ستوري دي. (۳)

ذوحیاتین: د دوو ژوندونو تبنتن، په ژوند پېژندنه کي "Biology" کي هغه ژوي ذوحیاتین بولي چي په وچه او اوبو کي ژوند کوي لکه: چونگښه.

ذوالفقار: د حضرت علي(رض) ابن ابو طالب(رض) د تورې نوم دی، وایي دغې تورې دتیغ پرشا فقرې " مهرې" درلودې معنا یې ده د فقرو تبنتن.

د مفرد مذکر "Sing maso" له پاره د جر په حالت کي " دي" کاریزي. د شرف الدین ابوعبدالله محمد بن سعید البوصیري " ۶۹۵ ه ق مړ" د قصېده برده " الکواکب الدریه فی مدح خیرالبریه" کي " ذی سلم" داسې راغلی دی:

امن تذکر جیران بذی سلم-

ذی سلم د یوه ځای نوم دی، سلم په عربي ژبه کي د یوه اغزن بوټې نوم په ذی سلم کي دغه بوټی په دغه مطلع کي یاد سوي دي، خورا ډېر دي.

ذی په جغرافیایي" Perffix" نامه کي د نسبت مخ وندی دی په ذی قوه، ذی الاوتا د ذی لقربی ذی القعده او ذی الحجه کي هم مخ وندی سته.

د مفرد مونث "Sing fam " له پاره ذات " د ت په زیر" کارېږي لکه:

ذات الکرسي: د چوکۍ خاونده- دایره نجومي اصطلاح ده د داسې ستورو نوم دی چې پر چوکۍ ناستې ښځې ته ورته دی.

ذات العماد: هغه مانۍ چې ستنې ولري

ذات البروج: د برجونو تښتن، اسمان، سما کلمه چي په عربي ژبه کي د سمان معنا لري مونثه ده.

ذات الوقود: د پیلوځې" بالڼ" تښتن، اور، نار کلمه په عربي ژبه کي د اور په معنا مونثه کلمه او نور.

ذات اللهب: د لمبو خاوند، اور.

✧✧✧✧

د جمع مذکر" **Plu-mase**" له پاره ذوی. د واو په زیر" کاروي لکه:

ذوی القربی: نژدې دوستان- ذوی العقول: د عقلونو خاوندان- ذوی النسب: د نسبونو تښتان. د جمع مونث" **Plu-fam**" له پاره ذوات" د ت په زیر" کارېږي. د مذکرې تثنيې" **Masc-dua**" له پاره کارېږي. د قران عظیم الشان د طلاق د سورې په دوهم ایت کي دا کلمه داسې راغلې ده:

واشهدوا ذوی عدل منکم

ژباړه: او تاسې شاهدان نیسئ" پر دغه رجوع باندې" دوه د عدل خاوندان له تاسې څخه.

## لمن لیکونه

۱- رقیه او کلثوم یا ام کلثوم له حضرت پیمغبر(ص) څخه د مومنانو د مور حضرت خدیجه الکبری(رض) څلورم او پنځم اولاد دی.

۲- وګ: زین الخبار" علامه عبدالحی حبیبي" په تصحیح، تحشیه او تعلیق" ۱۳۰ مخ د ایران چاپ.

۳- وګ: التفهیم لا وایل صناعته التنجیم ۱۶۵ مخ او غیاث اللغات.

۴- د قصیده بردې په منظومه پښتو ترجمه کي چي اخوند درویزه ننګرهاري " ۹۴۰-۱۰۲۸ ه ق" کړېده دا مطلع داسې پښتو سوې ده:

ګوندې ستا د ذی سلم باران یادېږي

څکه اوښکې دي له وینو

ګډې وډې د باران په دود وربږي

" مخزن الاسلام"

# ایا دا رښتیا ده؟

## چې د ساکیاموني بودا اومهاراجه اشوکا تر منځ زماني واټن سل کاله و؟ (۱)

چیني پوه هیون څانګ د هجري سنې تر پیل ( ۶۲۲ ع) اتلس یا نولس کاله پخوا د چین په **Koushin** نومې ښار کې زېږېدلی اوپه ( ۶۶۳ ع) کال ( ۴۳ هـ ق ) د چین **Kaoc hang** نومې ښار کې مړ دی.
هیون څانګ د بودایي دین لوی عالم و، ده له هندي ژبو څخه (۷۳) بودایي متنه په چیني ژبه ژباړلي وو او د هندوستان له سفره چې چین ته ورسېده، شل اسه یې په کتابونو بار وو. په دغو کتابونو کې (۴۰۷) ټوکه بودایي متنه وو. ده د افغانستان او هندوستان په سفر کې له ( ۶۲۹ ع) (۸ هـ ق) څخه تر ( ۶۴۴ ع) ( ۲۴ هـ ق ) پورې شپاړس کاله تېر کړل.
هیون څانګ هندوستان ته د تګ په لاره کې د ختن او کاشغر له لارې د ( ۶۳۰ ع ) د مې په لسمه کاپیسا ته را رسېدلی او د ( ۶۳۰ ع) د اګست په پنځلسمه لغمان ته، د اګست په شمله ننګرهار ته، دنومبر په لومړۍ ورځ مو د یهنډ " اوسنی هند" د ( ۶۳۱ ع) کال د جنورۍ په لومړۍ ورځ **Udyuna** (سوات) ته تللی دی.
له هندوستان څخه د راستنېدلو په وخت کې د ( ۶۴۳ ع) دسمبر په (۲۵) تر اباسین راپورې ووت. په دیهند (هند) کې یو میاشت و شل ورځې و اوسېده. د ( ۶۴۴ ع) کال د مارچ په پنځلسمه لغمان ته ورسېد. ( ۶۴۴ ع) د جون پر پنځلسمه فالانا ( اوسنی بنو) ته ولاړ. له بنو څخه د پنځلس ورځو مزل وروسته د جون پر دېرشمه اپوکان ( افغان) ته ورسېد. بیا د څوکي تو"**Caokiato** " یعنې اوسنی غزني او جګدو ( اوسنی چغتو) له لارې ( ۶۴۴ ع) کال د جولای

په لومړۍ ورځ کاپيسا ته ورسېده، هيون په هندوستان کي د جنوبي هندوستان تر څنډو تللی دی.

د هيون څانگ ددغه اوږده سفر يون ليک( سفرنامه) G.U.K نومېږي، چي معنا يې ده " د چين د لوېديزو ملکونو په باب ياداښتونه" دا يون ليک يې په چيني ژبه ليکلی دي.

G.U.K په څو ژبو ژباړل شوی دی. انگريزي ژباړه يې چي سوتېل بيلي کړې ده په ( ۱۹۰۴ ع) کال په لندن کي چاپ سوې ده. پر G.W.K باندې يو کتاب چي On the travels of Hyven chwang نومېږي، T. walter ليکلی دی. C.U.K پښتو ترجمه چي په ( ۱۳۵۷ هـ ش ) کال په کابل کي چاپ سوې ده.

"د چينيانو يونليکونه" نومېږي او عبدالکريم محب ژباړلې ده. د چينيانو د يونليکونو د چاپي نسخې په (۲۱۱) مخ کي ليکلي دي:

" د بودا دنرواڼا په سلم کال اشوکا د مگده پاچا خپله واکمني پر ټولې نړۍ باندې وغځوله" (۲) په دغه اقتباس کي، چي د مهاراجه اشوکا د پاچاهۍ د عروج زمانه، د ساکياموني بودا د نروان " مرگ" په سلم کال ښودل سوی دی، د تامل وړ دي. ددې تامل سبب گرانو لوستونکيو ته داسې وړاندې کوم:

د ساکياموني (۳) مدهرتاگوتما د زېږېدنې او مړينې د کال په اړه څه اختلاف سته دی، پښتانه عالم محمد عالم خان ښي پخپل تاليف " پس منظر اسلام" (۱۳۶۸ هـ ق) تاليف کي د گوتم بدها زوکړه په (۶۲۳م) او مرگ يې په ( ۵۵۶ ق م) ښودلی دی (۴) په مجموعه مضامين فارسي (۶۵ ) مخ کي د بودا د مرگ کال ( ۵۵۷ م ) ليکلی دی.

جرمني عالم مکس مولر ( ۱۸۲۳-۹۰۰ ع) وايي:

" بودا په اتیا کلنۍ کې په (۴۷۷ ق م) کې په کوشي نګر کې مړ دی په " سیلون" سریلینکا" کې چې د بودا کرونو لوژي خپره سوېده په هغې کې وايي:

" د بودا مړینه په (۵۴۳ ق م) کې پېښه سوېده.

د ائینه عظمت هند (۱۰۸ مخ) په لمن لیک کې " وایو بران په حواله کښلي دي: " د پالي پوترابنار" اوسنی پلټنه" راجا اودېشو جوړ کړی دی. راجا اودېشو د بودا تر زېږېدلو (۲۴) کاله وروسته په ( ۵۱۹ ق م) کال د ګلدهٔ پاچا سوی دي. په دې حساب نور بودا د زږکړې کال په وایوپران کې هم ( ۵۴۳ ق م) کښلی دی.

" ایچ. جي. رالنسن" په ***A concise history of the Indian people*** کې د بودا د مرګ کال ( ۴۸۷ ق م) ښوولی دی.

د تاریخ ادبیات پاکستان و هند په ( ۲۲۰۴ مخ) او د رهنمای ټکسېلا په ۲۶ مخ کې د بودا د زوکړې کال ۵۶۳ ق م او د مرګ کال ( ۴۸۳ ) کال ښوولی دی.

**Edward I. Themas** هم د **The life of Buddha** په (۳۷ مخ) کې د بودا زوکړه (۵۶۳ ق م)اومرګ یې پر (۱۵۸) مخ کې په ( ۴۸۳ ق م) ښوولی دی. مولوی فصیح الدین بلخي د تاریخ مګدهٔ په (۱۶ مخ) کې د برما اوسیلون د روایتونو په سند د بودا مرګ په ( ۵۴۲ ق) کې ښیي، خو ځینې روایتونه دا ښیي چې بودا په (۵۶۸ ق م ) زوکړی او په (۴۸۸ ق م) کې مړ دی.

تاسې وینئ چې په دغه ټولو اقتباسونو کې د بودا د مرګ تر ټولو وروستی کال (۴۸۸ ق م) دی، خو تر ټولو باوري د مرګ کال یې ( ۴۸۳ ق م) دی.

وس به نو راشو دمهاراجا اشوکا د پاچاهۍ د عروج کال ته. د هندوستان ډېر نامتو ستر ټولواک د مهاراجه اشوکا په (۳۰۴ ق) زوکړی او د " اشوکا اعظم"

د مولف په وینا په (۲۷۰ ق م) کال پاچاهۍ ته رسېدلی دی (۵) د اشوکا اعظم دکتاب د لیکنې له مخې چې د اشوکا پاچا کېدل په (۲۷۰ ق م) کال ښوول سوی دی. دغه کار د بودا د نروانړ" مرګ" دوه سوه څوارلسم کال کېږي.

فصیح الدین بلخي په تاریخ مګدهـ (۳۷مخ) د بندو سارمرګ ۲۷۱ ق م ښیي او څلور کاله وروسته (۲۶۷) یې د اشوکا تاجپوشي بیان کړې ده (۶) او د اشوکاد نیکه چندرګیت موزیا د مړینې کال (۲۸۹ ق م) ښوول سوی دی، چې په دې حساب نو د اشوکا د پاچاهۍ پیل باید تر (۲۶۶ ق م) دمخه نه وي. (۲۶۶ ق م) کال د بودا د مرګ له باوري نېټې څخه (۲۱۷) کال زماني واټن لري. د پلار تر مرګ وروسته اشوکا څلورکاله له ورونو سره په جنګ اخته و د هغو تر وژلو یا مغلوبولو وروسته دی په (۲۶۲ ق م) کال د مګدهـ د پاچاهۍ مستقل واکمن سو چې تر دغه تاریخ (۲۶۲ ق م) پورې د بودا د مرګ زماني واټن (۲۲۱) کاله کېږي.

د اشوکا په کتیبو کې په یوه ډېر لیک "کتیبه" کې هم کښلي دي:

" زه د بودا تر نروانا " مرګ" دوه سوه یوویشت کاله وروسته پاچاهۍ ته رسېدلی یم"

د کتیبې ددې لیکنې له مخې به غالباً د اشوکا مراد (۲۶۲ ق م) یا (۲۵۶ق م) وي، چې لومړی تاریخ به یې د اشوکا د تاجپوشۍ څورالسم کال وي او دا به هغه وخت و چې د هیون څانګ په وینا د نړۍ ډېره برخه دده تر واکمنۍ لاندې سوې وه.

# پای ليکونه

۱- واټن: فاصله.

۲- نروانا **Nirwana**: په سنسکريت ژبه کي د نېستۍ " عدم" معنا لري، خو او نروان نيستي شوي ( معدوم) ته ويل کېده. دا کلمه د بودايي دين په پيروانو کي د نجات او خلاصون په مجازي معنا کارېږي. دا ځکه چي د بودا په تعليماتو کي مرګ له ګناه او ابتلا څخه د خلاصون او نجات وسيله ده.

۳- ساکياموني: ياني د ساکانو ملا- ساک د بودا د قبيلې نوم دی- د مهاراج اشوکا يوه ملکه، چي ساکيا له کورنۍ څخه وه، ساکيا کماري بلله کېدله، کماري د شهزداګۍ معنا لري.

۴- وګ: پس منظر اسلام **۵** مخ- ډهلي چاپ.

۵- وګ: اشوک اعظم د اله اباد پوهنتون داستاد ډاکتر سيد محمد حفيظ تاليف. د ډهلي چاپ ( **۱۹۴۴** ع) **۲۱** مخ.

۶- د هندوستان د لنډ تاريخ په (**۵۱**) مخ کي د بندو سارد پاچاهۍ موده (**۲۵**) کال ښوول سوې ده"؟" او پروفيسر مکرجي پخپل کتاب " اشوکا" کي د بندوسار مرګ په **۲۷۴** ق م کي ښوولی دی.

# د لوی احمد شاه بابا د مرګ په نېټه کې اختلافونه

د افغانستان ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا(رح) د اوسني بولدک په " توبه " کې مړ سوی او جنازه یې په شاهي ادابو، احمد شاهي کندهار ته راوړل سوې ده. په ځینو کتابونو کې د دغه خدای بښلي ستر ټولواک د کال، میاشتې او نېټې او د پاچهۍ د مودې په باب اختلافونه یا تېروتنې لیدل کېږي چې په دې ډول دي:

الف: د کلونو اختلافونه:
منشي عبدالکریم علوي د " تاریخ احمد" په اتلسم مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د پاچهۍ موده درویشت کال دوې میاشتې او څو ورځې ښوولې ده. مګر دمرګ کال یې صحیح لیکلی دی، خو واقعیت دادی چې په قمري حساب لوی احمدشاه بابا(رح) پنځه ویشت کال- اووه میاشتې او څو ورځې پاچهي کړېده چې په شمسي حساب څلېرویشت کاله لو یوولس میاشتې ځنې جوړېږي. د تاریخ احمد په اردو ژباړو کې چې " واقعات دراني" نومېږي ژباړن " وارث علي سیفي" په **۵۸** مخ کې د مولف روایت کټ مټ ژباړلی دی.
په " فواید الصوفیه" کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مړینې کال **۱۱۸۳** هـ ق لیکل سوی دی.
ایراني پوهاند مدرس رضوي د ابوالحسین محمد امین ګلستان د محمل التورایخ د تعلیماتو برخه (**۴۴۸** مخ) کې د فواید الصوفیه لیکنه واقعیت ته نږدې بللې ده، خو په خپله په مجمل التورایخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مرګ نېټه **۱۱۸۵** ع کال له اکتوبر سره برابر ده.
شېر محمد ګنډاپوري د " تواریخ خورشید جهان" په **۱۷۵** مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مرګ کال **۱۱۸۴** هـ ق لیکلی دی.

عبدالحکیم خان لودي د شوکت افغاني د دریمې برخې په ۶۷ مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مرګ کال ۱۱۸۴ هـ ق - ۱۷۷۰ بللې او دده د پاچهۍ موده یې څلېرویشت کاله اوڅو میاشتې لیکلې ده. ډېټې حیات خان بیا د حیات افغاني د لومړي ټوک په ۱۲۶ مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د پاچهۍ موده فقط څلېرویشت کاله ښوولې ده.

د افغانستان مورخ غلام محمد خان غبار ( ۱۳۵۶ هـ ش مړ) د " دافغانستان در مسیر تاریخ" لومړي په ۳۷۲ مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مړینې کال ۱۱۸۷ هـ ق او میاشت یې رجب ښوولې ده. غبار دغه نېټه په عیسوي حساب د ۱۷۷۳ د جون له میاشتې سره برابره ګڼلې ده (۱).

زما په خیال غبار ددې نېټې په لیکلو کې د مانسټوارټ الفنسټون د جي، بي، مایسن او جي، پي فرمر پیروي کړېده. دغو درېیو ختیځپوهانو د لوی احمدشاه بابا(رح) مرګ ( ۱۷۷۳ ع ) کال په جون کې ښوولې دی، دا به بېځایه نه وي که ووایو چې دغه تېروتنه تر غبار تقریباً یو سل و دوولس کال پخوا ایرانی لیکوال اعتضاد السلطنه علي قلي میرزا هم کړې ده او ده هم د تاریخ وقایع وسوانح افغانستان په دیارلسم مخ کې د لوی احمدشاه بابا(رح) د مرګ کال ۱۱۸۷ هـ ق لیکلی دی.

په دغو یادوشویو روایتونو کې د کال یا کلونو زیات یا کم راغلي دي، خو واقعیت دادی چي لوی احمدشاه بابا(رح) په ۱۱۸۶ هـ ق کال کې مړ سوی دي (۲).

د لوی احمدشاه بابا(رح) در بار دمنشي محمودالحسیني زوی محمد اسماعیل " چي د احمدشاه بابا(رح) مرګ یې په خپلو سترګو لیدلی دی" د احمدشاه بابا(رح) په وېر نه کې داسې تاریخي ماده ویلې ده:

بادل مجروح جستم از خرد باصد فغان
مال تاریخ وفات بادشاه نامراد
بهر تاریخ وفاتش "جان افغان" زد رقم
از برای درک مطلب بر سبیل اختصار
باز گفتم من به او تاریخ بهتر این بگو
تا نماند بر دلم زین رهگذر مطلق غبار
گفت در گوشم" ز ایزاد شاهی فردوس یافت"
زانکه با او لطف دارد دایما پروردگار

له دغو دواړو تاریخي مادو " جان افغان" او د زایزد شاهی فردوس یافت" څخه راوځي. خدایداد خان ترین " تاریخ سند" په ۱۳۴ مخ کې د لوی احمد شاه بابا د مرګ تاریخي ماده داسې راوړې ده.

ز دنیا دون شاه رحلت نمود ۱۱۸۶.

د لوی احمد شاه بابا د دربار یو بل شاعر منشي عبدالهادي لاري موسوي چې " عشرت" یې تخلص و، د لوی احمد شاه بابا په وېرنه کې داسې ویلي دي:

شاهی که تمام عمر از فضل الهی
بر خواهش او چرخ مخالف گردید
تیغش چو شعاع شمس بر فرق عدد
از روز خروج تا بقرنی تائید
ناگاه ندای ارجعی پیک اجل
در داد به گوش هوش ان شاه سعید

لبیک اجابت بر زبان جاری کرد
بر داعی حق بطوع بی گفت وشنید
زین تعزیه اسمان بافرو شکوه
از بارگران درد و اندوه حمید
باچهره زرد از غم شاه جهان
لرزنده بر افلاک بر امد خورشید
بر روی خلایق ز غم و درد و الم
خوناب سر شک همچو سیلاب دوید
از بهر و فات شاه" عشرت" می جست
تاریخ نکو از فرد با تائید
از لطف به من کرد جوابی که بگو
" فردوس ز مقدمش مزین گردید"
(۱۱۸۶)

په کندهار کي د لوی احمد شاه بابا د زیارت گمبته چي په ۱۱۹۰ هـ ق کال کي يې ودانۍ بشپړه سوې ده، پردېوالو يې په جلي قلم دا څلور بيتونه ليکلي دي:

شاه والا جاه احمد شاه درانی که بود
در قوانین امور سلطنت کبری منش
از نهیب قهرمان سطوش در عهد او
شیر اهو را به شیر خویش دا دی پرورش
میرسداز هر طرف در گوش بدخواهان او
از زبان خنجرش هر دم هزاران سرزنش
چون روان شد جانب دار البقا تاریخ بود
سال هجری یک هزار ویک صدو هشتاد وشش

ب: د میاشتو او ورځو اختلاف:

په ځینو کتابونو کې د لوی احمد شاه بابا د مړینې کال سم کښل سوی دی، خو د میاشتو او ورځو تېروتنې پکې سته لکه:
د کندهار اوسېدونکي سلطان محمد بارکزي چې تخلص یې " خالص" و، د خپل کتاب " تاریخ سلطاني" په ۱۴۷ مخ کې د لوی احمد شاه بابا د مړینې نېټه " شب جمعه ۲۰ رجب یکهزارویکصدو هشتادوشش هجری قمری" لیکلې ده.
فیض محمد هزاره مخلص په کاتب د سراج التواریخ د لومړی ټوک په نهمه ویشتم مخ کې د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه له تاریخ سلطاني څخه کټ مټ نقل کړېده.
هندوستاني پوهاند ډاکتر ګنډاسنګ **Durani Ahmad Shah** د پنځه ویشتم فصل په پای کې د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه د ۱۱۸۶ هـ ق کال د رجب د میاشتې شمله بللې او د ۱۱۷۲ ع کال د دسمبر له درویشتمې سره یې ذکر شوې، هجري نېټه برابره ښوولې ده او دا یې هم زیاته کړېده چې ما د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه له تاریخ السلطاني او سراج التواریخ څخه را اخېستې و.
میر محمد صدیق فرهنګ د " افغانستان درپنج قرن اخیر" په ۹۲ مخ کې د لوی احمد شاه بابا مرګ په عیسوي حساب د ۱۷۷۲ ع کال د اکتوبر درویشتمه او په هجري قمري حساب یې د ۱۱۸۶ کال د رجب د میاشتې څلېرویشتمه لیکلې ده او خپل ماخذ یې نه دی ښوولی.
حامد علمي هم د " روز شماري وقایع افغانستان په پنځم مخ کې د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه ۲۳ اکتوبر ۱۷۷۲ لیکلې ده.

نبي مصداق په خپل کتاب (Ahmad Shah Durni ) کي د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه د ۱۷۷۲ ع کال د اپرېل ۱۴ ښوولې ده چي د ۱۱۸۶ هـ ق د محرمې له ۱۷ سره برابرېږي.

د لوی احمد شاه بابا د مرګ په اړه دا بیان سوي روایتونه ځکه سم نه دي چي:

د لوی احمد شاه بابا د دربار د منشي محمود الحسیني لیکنه هغه ردوي، منشي محمود الحسیني چي د لوی احمد شاه بابا پر جنازه حاضر و، د خپل کتاب " تاریخ احمد شاهي" په دویم ټوک کښي د لوی احمد شاه بابا د پاچهۍ د شپږویشتم کال په بحث کي د لوی احمد شاه بابا مرګ د ۱۱۸۶ هـ ق کال د لومړۍ خور پر دویمه چي د پنجشنبې ورځ وه، ښوولی دی، او دا یې هم زیاته کړې ده چي دغه کال ترکانو د زماني وېش له مخې " لوئیل" وو.

د نوموړي منشي محمود الحسیني زوی محمد اسماعیل د لوی احمد شاه بابا د مرګ تاریخ داسې نظم کړی دی.

روز پنجشنبی بتاریخ دوم ز اول ربیع
وقت ظهر و سال لوئیل اخر فصل بهار
کرد رحلت در هزارویکصدوهشتادوشش
سال تاریخ وفات از سال هجری کن شمار

۱۱۸۶ هـ ق کال د لومړۍ خور دویمه ورځ د ۱۷۷۲ ع کال د جون له ۳ سر برابرېږي. پوهاند ګنډاسنګ په (Ahmad Shah Durani) کي لیکلي دي: په عمده التوایخ کي د لوی احمد شاه بابا د مرګ نېټه ۱۱۸۶ هـ ق کال د لومړۍ خور د میاشتې دویمه لیکلې ده، چي د ۱۷۷۲ ع کال د جون له لسمې سره برابرېږي. په پای کي هغه تاریخي مادې راوړم چي ما " رشاد" د لوی احمد شاه بابا د مرګ په باب ویلي دي:

۱-

د پښتون د کالبوت ساوې احمد شاه
ستا په مرګ مې زړه زخمي سو، ائينه ګرګ سوه
مفتيان د عدل و عقل پسې ګرځي
" هدايه" د تاريخ ورکه ستا په مرګ سوه

حل يې:
د تخرجي عمل - " ورکه" د تخرجي " نفې" قرينه ده
تاريخ = ۱۲۱۱ - هدايه = ۲۵ = ۱۱۸۶
۲-

" دم" يې ورکړ عزرائيل ته
ځي جنت ته احمدشاه

حل يې:
د تخرجي عمل - " ورکړ" د تخرجي" نفې" قرينه ده
ځي جنت ته احمدشاه = ۱۲۳۰ - دم = ۴۴ = ۱۱۸۶

# پای ليکونه

۱- د ۱۱۸۶ هـ ق کال د رجب د مياشتې لومړۍ ورځ د ۱۷۷۲ ع کال د ډسمبر له اتلسمې سره برابره ده. د غبار په " افغانستان در مسير تاريخ" کې د قمري هجري او عيسوي نېټو معادله هم سمه نه ده.

۲- وګ: تاريخ احمد شاهي- د منشي محمود الحسيني تاليف، ۱۲۷۷ د مسکو چاپ.



د هېواد او سيمې لوی عالم، څېړونکی، شاعر، ژبپوه او تاريخپوه
استاد اکاډميسن پوهاند عبدالشکور رشاد